ادع الى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي احسن الآية

دعوت

د توحيد او جهاد مجله

د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة د افكارو خپرونه

۳۴ گڼه



الهی فرمان

بسم الله الرحمن الرحيم

«واعبدوا الله ولا تشركوا به شيئاً و بالوالدين احسانا وبذى القربى واليتامى والمساكين والجار ذى القربى والجار الجنب والصاحب بالجنب وابن السبيل وما ملكت ايمانكم ان الله لا يحب من كان مختالاً فخورا« (النساء - ٣٦)

ترجمه: وعبادت الله كنيد وبا او هيچ چيز را شريك نه سازيد، وبه پدر ومادر نيكو كاري كنيد و به خويشان ويتيمان و مساكين و همسايه خويشاوند و همسايهء اجنبى وبه همنشين بر پهلو نشسته و به مسافر وبر آنكه مالك او هستيد، هر آينه الله دوست ندارد كسى را كه متكبر و خود ستاينده باشند.

بسم الله الرحمن الرحيم

«قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين»
سورة يوسف (۱۰۸)

دعوت

د توحيد او جهاد مجله

دامتیاز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

مؤسس: شهیدشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)

سرپرست: الشیخ سمیع الله

خیرونکی اداره: ددعوت او ارشاد ریاست

شپږم کال پرله پسي گڼه (۳٤) ۱٤۱٤ هـ ق د ذ القعدي او ذالحجي میاشتی

دهیئت تحریر تر نظارت لاندی

په پاکستان کی د
گډون بیه:
میاشتنی: ۱۰ کلداری
کلنی: ۱۰۰ کلداری

په نورو بهرنیو هیوادونوکی د
گډون بیه:
میاشتنی: ۲ امریکائی ډالر
کلنی: ۱۰ امریکائی ډالر

ددی گڼی مطالب

عنوان	مخ
* (سرمقاله)	۲
* حج ومناسك آن	۵
* د اعتدال لاره	۱۰
* د جمعه خان شینواری سره مرکه	۱۷
* گوشه از معرفي سلسله	۲۰
* ددین مفهوم	۲۳
* د کشمیری مسلمانانو ویني	۲۷
* دا وږي چه ماره شي (شعر)	۳۱
* ویده ضمیر ته سکونډ (شعر)	۳۳
* په اسلام کی د حجاب حکم	۳٤
* د نبوی ملغلو امیل	۳۷
* تمدن او د تمدن ډولونه	٤۰
* نری باران او د بلی غاره	٤۳
* د لیکونو بهیر	٤۵

په داخل او په پاکستان کی زمونږ
نمایندگان

په داخل کی: لعل محمد «افسوس»
اسلام آباد: عفیف احمد
پیښور: غنی الله «مسلم»
لاهور: حماد شاکر
کراچی: چوهدری ظهور احمد
کوئټه: عرفان منگل
مظفر آباد: بشیر قریشی

په نورو بهرنیو هیوادونوکی زمونږ
نمایندگان

سعودی عرب: فیضان الله
امریکا: عبدالرحمن احمد
بریطانیا: منور علی
جرمنی: واثی - ایم حمیم
هالینډ: عماد الدین بکری اسماعیل

کمپوزر: عطاءالله «الفت»

مکاتباتی پته: «دعوت مجله» - پوست بکس نمبر ٦١٤ پشاور پاکستان

بانکی حساب: افغان اسلامي خبری اداره - اکاونټ نمبر ۷-۱۰٦۳ - نشنل بینك - صدر روډ - پشاور.

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

محمود مستیري او د افغانانو هیلې...؟

که څه هم د جهاد اهداف او منشور بیخي څرګند ؤ او اکثره جهادي مشرانو به د جهاد په څوارلس کلن دوران کې ددې خبرې وضاحت کاوه چې هدف ئې په هیواد کې د یو اسلامي حکومت ټینګیدل او د الحادي او کفري نظام ړنګیدل دي.

خو په دې ټولو مشرانو کې د شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله عملي ټینګار او دهغه دغه پیش بیني اوس مصداق ته رسیدلې ده چې ویل به ئې: "که افغان مجاهدین خپل سپیڅلی جهاد ته د الله تعالی په لاره کې دوام ورکړي او په شخصي منافعو پورې ونه نښلي نو لرې نه ده چې جهادي کاروان به د امو له دریاب څخه عبور وکړي او همداسې په تدریج سره به ټوله نړۍ احتوا کړي او په عملي ډګر کې به اسلامي امارتونه جوړ شي».

د شهید جدي غوښتنه دا وه چې باید په ازادو سیمو کې زر ترزره اسلامي اداري جوړې شي تر څو د جاهلي نظامونو ګدوډیو ته ډیره زر خاتمه ورکړ شي.

په داسې حال کې چې د مرحوم شیخ په ژوندانه کې په کونړ کې دغه سپارښت او آرمان تر سره شو خو ځینو جاه طلبو پکې د تشتت دپاره شیطاني فعالیتونه وکړل او کوشش ئې کاوه چې د شرع الله د تنفیذ په مخکې خنډونه ایجاد کړي.

دوه کاله وشول چې د روس ګوډاګی رژیم ړنګ شوی او مجاهدین قدرت ته رسیدلي دي خو د بده شامته په دغه موده کې نه یوازې د اسلامي حکومت او خاص طور د قرآن او سنت د حاکمیت دپاره کار نه دی شوی بلکه تیر دوه کاله په شخړو او فزیکي تمام عیارو جنګونو کې تاریخ ریکارډ ټینګ کړي دي او د افغاني څوارلس کلن جهاد اهداف ئې په داسې لارو

چارو کی سوق او استخدام کړی دی چی خلك ئی د نا اُمیدی سره مواجه کړی دی او دا یوه لویه فتنه او بی لاری ده چی باید جداً ئی مخنیوی وشی.

د یوی مودی راهیسی چی مجاهدین د پخوانیو کمونیستانو په اختلاط او شیطانت سره په خپلو مینځو کی کیوتی د ی او یوبل ئی له ستونی څخه نیولی دی، عوام الناس او حتی روشنفکران او ځینی جهادی تنظیمونه چی ځان ته اعتدال پسند او ملی ګرانږوائی د ملګرو ملتو په مداخلت او لاس نیوی ټینګار کوی، ځینـو ئی د آزادو انتخاباتو غوښتنه ټینګه کړی ده او ددی کار لپاره ئی څو ځلی ضرب الاجل هم ټاکلی دی، ځینی د لويې جرګی او ځینی هم د اهل حل و عقد شوری د لانجو دغوځولو او سیاسی ثبات او استقرار متضمن بولی، خو اساسی خبره داده چی ټول افغانان او جهادی تنظیمونه باید په خپلو کی سره جوړ شی، د جهادی اهدافو مطابق شرعی ضوابط د لاری مشعل او رهنما وټاکی او دیوهٔ مشر په ټاکلو سره د کوتك او ټوپك قیصه نوره ختمه کړی.

تر کومه ځایه چی د ملګرو ملتو د سازمان د مداخلت او منځګړتوب خبره ده داهم هسی بابیزه څکه ده چی تر اوسه دی نړیوال سازمان د نړی په یو ګوټ کی هم څه داسی نقش او کردار نه دی آداء کړی چی هغه د دایمی اوربند سبب شی لکه چی هم دا اوس ددنیا په اکثر لانجو کی دغه ارګان لګیا دی خو کومه مثبته نتیجه لا وربانْدی مرتبه شوی نه ده.

په افغانستان کی هم د ملګرو ملتو د امنیت د شوری په فرمایش د محمود مستیری په ذریعه دغه کوشش اوآزموینه تر سره شوه، باصلاحیته نړیوال وفد کابل ته او دهیواد زیاتره ولایاتو ته ځانګړي سفرونه او دوري وکړی، خو د خبرو اترو او سروی نه ئی داسی ښکاری چی تش لاس راستون شوی دی او د افغانانو هغه طمعه چی دی نړیوال سازمان ته ئی لرله د تعلیق په حال کی ده او داسی فکر کیږی چی د بین المجاهدین لانجی په غوځولو سره به بریالی نشی. دا وخت په افغانستان کی د داخلی وضعیت او سیاسی صورتحال په لړ کی افغان انتظامیه داسی جوړه شوی.ده چی قدرت ویشل شوی دی، هر تنظیم د خپلی اردو څښتن دی، حکومتی تأسیسات تقسیم کړی شوی دی، پولیس وجود نلری، واحده قومنده او واحد حکومتی ویاند نشته څکه نو څوك د قدرت د نیولو او څوك هم د قدرت د ساتلو لپاره مبارزه کوی او په دی مبارزه کی حقه خبره داده چی د شرعی ضوابطو خیال نه ساتل کیږی او شخصی ګټی د اجتماعی ګټو نه مخکی دی.

حقیقت خو دادی چی د ټولی دنیا او په تیره بیا اسلامی هیوادونو زمونږ په جهادی مشرانو غږ کړی دی چی خپل مسایل پخپله حل کړی خو د بده مرغه د پوهی او علمیت سره سره په یو هدف او یو مرام نه راټولیږی او د هری ورځی په تیریدو سره ئی خپل منځی اختلافات شدید کیږی او حکومتی انتظامیه ورنه ورانیږی چی دا ټول د قدرت لیونتوب او د جهادی اهدافو عدم تحقق دی او بس.

مونږ د افغانی عنعنوی روایاتو نه مخکی د اسلامی ارشاداتو په رڼا کی د قرآن او سنت د حاکمیت لپاره څرګندی نسخی لرو چی د جهاد په دوران کی مونږ ټولو په دی تعهد کړی دی او ددی بنستیزی نسخی دپاره مو وینی توئی کړی دی. شهیدان، معلولین او معیوبین مو ورکړی دی او هم دغسی حکومت مو خپل شعار ټاکلی دی او هر څوك چی ددی نه پرته نوری غوښتنی لری د اسلامی امت او جهادی اهدافو له نظره محکومی او مردودی دی.

د افغانستان د جماعت الدعوة الی القرآن والسنة له نظره د نړۍ وتلی او متبحر عالمان کولی شی چی دیوی ستری اجتماع او شرعی فیصلی په رڼا کی افغان بحران حل وفصل کړی چی په دی لړ کی د کعبی شریفی د امام په صدارت کی چی د اکثره اسلامی ممالکو د عالمانو څخه کوم وفد تشکیل شوی دی او دا وخت ئی د افغانانو تر مینځ د منځګړتوب کوم تحریك شروع کړی دی،که چیری پخه همکاری ورسره وشی کولی شی په بنیادی او شرعی فیصلی سره افغان تراژیدی پای ته ورسوی. خو ډیره د افسوس خبره ده چی دغسی یو وفد هم خپل تاریخی او اسلامی رسالت آداکړ خو د بده مرغه ټول هیوادوال خبر شول چی دا وفد هم په دزه ډوزه کی د کابل نه خفه او مرور لاړ او په جنګ کی ښکیلو یارانو په خپلو وراندیزونو کی هیڅ نرمښت او د مؤمن ملت د نجات دپاره د قربانۍ او اسلامی ضوابطو هیڅ خیال ونه ساته او په دی توګه ئی مغربی او اسلامی ملکونو ته د افغان جهاد شمله راټیټه کړه او داسی ئی څرګنده کړه چی د قدرت نیولو او قدرت ساتلو په مقابل کی د منځګړتوب ټولی خبری مردودی دی.

«ومن الله التوفیق»

حج ومناسك آن

گرد اورنده: محراب الدين «يوسفزى

حج، در لغت قصد و اراده را گويند و در اصطلاح شريعت اعمال و مناسك مخصوص و طواف بيت الله الحرام را حج گويند.

حج، از جمله اركان و بناهاي مهم دين مبين اسلام است، الله تعالي ميفرمايد:

«ولله علي الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلا ومن كفر فان الله غني عن العالمين (آل عمران - ٩٧)

ترجمه: و حق خداست بر مردم حج خانهء كعبه، هر كه توانائي بسوي آن را دارد و از جهت اسباب راه، وهر كه كافر شود، پس خداوند بي نياز است از عالميان.

همچنين ارشاد رسول الله ﷺ است كه: «وعن ابن عمر رضي الله عنهما ان رسول الله ﷺ قال: بني الاسلام علي خمس: شهادة ان لا اله الا الله و ان محمد رسول الله، واقام الصلاة، و ايتاء الزكاة، و حج البيت، وصوم رمضان» (متفق عليه)

ترجمه: از ابن عمر رضي الله عنهما روايت است كه: رسول الله ﷺ فرمود: اسلام بر پنج بناء استوار است: گواهي دادن به اين كه معبود بر حق جز الله نيست و اينكه محمد رسول و فرستاده ء خدا است و برپا داشتن نماز و دادن زكات و حج خانهء خدا و روزهء رمضان.

در حديث ديگري آمده كه: «وعن ابي هريرة (رضي الله عنه) قال: خطبنا رسول الله ﷺ فقال: «يا ايها الناس قد فرض الله عليكم الحج فحجوا» فقال رجل: أكل عام يا رسول الله؟ فسكت، حتي قالها ثلاثاً، فقال رسول الله ﷺ: «لوقلت نعم لو جبت و لا استطعتم» ثم قال: «ذروني ما تركتكم، فانما هلك من كان قبلكم بكثرة سؤالهم، واختلافهم علي انبيائهم، فاذا أمرتكم بشيءٍ فاتوا منه مااستطعتم، واذا نهيتكم عن شيءٍ فدعوه» (رواه مسلم)

ترجمه: از ابو هريرة رضي الله عنه روايت شده كه گفت: رسول الله ﷺ براي ما خطبه خوانده فرمود: «اي مردم! همانا خداوند حج را برشما فرض گردانيده پس حج كنيد» مردي گفت: آيا هر سال يا رسول الله؟ آنحضرت ﷺ سكوت فرمود تا اينكه سه بار گفت، رسول الله ﷺ فرمود: اگر بلي ميگفتم واجب مي شد وآن را انجام داده نمي توانستيد، بعد فرمود مرا در بارهء آنچه از شما ترك نمودم ترك كنيد و بگذاريد، زيرا كساني كه پيش از شما بودند بواسطهء سؤال زياد و اختلاف شان بر پيامبران شان هلاك شدند. پس هر گاه شما رابه چيزي امر كردم آنچه را كه از آن بتوانيد انجام دهيد و چون شما را از كاري منع كردم آن را ترك كنيد.

از آية و آحاديث فوق و همچنين آيات و آحاديث متعددي كه راجع به فرضيت، حقيقت و اهميت حج نقل

شده معلوم مي شود كه مناسك حج در تمام عمر يكبار بر هر مؤمن و مؤمنه (داراي محرم شرعي) عاقل و حرّ كه داراي استطاعت راه و صحتمندي باشد فرض است.

مناسك حج از جمله، عباداتي است كه داراي حكمت ها و مصلحت ها و فيوضات و بركات زيادي است، عباداتي است كه فوايد و ثمراتش درسهاي عبرت آموز دارد.

حاجي ايكه به خاطر حصول رضاي خداوندي و اداء فريضه، اش با توكل بر خدا آل وعيال و مال ومنال و زمين و جايداد و اقا رب و خويشاوندان خود را واميگذارد و با ذكرالله از خانه و كاشانه، خود بيرون مي شود و اين توانمندي و استطاعت را توفيق خداوند و فيوضات و رحمات ايزدي مي انگارد، اميد هاي غفران در قلبش موج ميزند و از مالك حقيقي خود دعاء ميطلبد و ميگويد: يا الله، تو همسفرم باشي،- آل وعيال ومال و منال خويش را به اميد تو گذاشتم و به اميد همسفر بودن تو حركت كردم، يا الله! سفر مشكلم را سهل گردان و از شر اشرار و شياطين و ظلم ظالمين مراوآل وعيالم را نجات ده، يا الله! به اميد تو حركت كردم با من نصرت فرما و يقين دارم كه تو همسفر مني.

وقتي حاجي از خانه، خود بيرون ميشود مصروف ذكر الهي بوده و الله اكبر و سبحان الله گويان به سفر خود ادامه ميدهد. و حين رسيدن به حرم شريف عظمت و جلال الهي هميشه بر ذهنش طاري بوده، كلام الهي را تلاوت نموده وقلب خود را به آن تسكين ميبخشد، طواف خانه، كعبه و ركن يماني را به جا مي آآورد و با لمس نمودن حجر اسود از پروردگار خويش التجاء مي نمايد كه: « ربنا اتنا في الدنيا حسنةً و في الاخرة حسنة وقنا عذاب النار» يعني اي الله! خير دنيا و آخرت نصيبم فرما و از عذاب دوزخ نجاتم ده، وقتي به تپه عرفات بالا ميرود به آواز بلند مي گويد:

«لبيك اللهم لبيك ، لبيك لا شريك لك لبيك، ان الحمد والنعمة لك والملك لاشريك لك».

اين الفاظ را به عربي «تلبيه» ميگويند كه معنايش اين است: يعني آماده ام الهي من آماده ام، من آماده ام تو هيچ شريك نداري من آماده ام، بيشك همه، تعريف ها و نعمت ها سزا وار تو است و در بادشاهي ات هيچ شريك نيست. «باب ملتزم» را درآغوش ميكشد و با ريختن اشك، مغفرت گناها و نجات از آتش دوزخ وشر شياطين مي خواهد. وقتي ميان «صفا» و «مروة» سعي ميكند حمدوثناء پروردگار خود را ميگويد و اذكار آتي را بر زبان مي راند: «لا اله الا الله والله اكبر لا اله الا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد يحيي و يميت وهو علي كل شيء قدير ط لا اله الا الله وحده النجز وعده نصر عبده و هزم الاحزاب وحده».

حاجي در ميان «مينا» و «عرفه» وغيره نيز به ذكر و دعاء و عبادت مصروف بوده و با نعره تكبير مجسمه، شيطان را كه به شكل سنگ است با سنگچل ميزند و بطور عملي ثابت ميكند كه وي در مقابل حكم الله و رسولش شيطان را از خود دور ميراند و شيطان مردود او را از هيچ حكم الهي باز داشته نه ميتواند طوريكه حضرت ابراهيم (عليه السلام) را باز داشته نه توانست و اين عمل سنگچل زدن را «جمره» ميگويند و بنام جمره، اولي و جمره، وسطي و جمره، اخري ياد ميكنند.

حج از جمله، عباداتي است كه امت هاي سابقه نيز آن را به جا مي آورد، در زمان جاهليت نيز مراسم حج اجراء مي شد ولي شكل ميله داشت، بعد از طلوع فجر اسلام مراسم باطله آن ملغى قرار داده شد مثلاً شهوت راني و جنگ وجدل ها و زور ازمائي هاي كه در آن دوران رواج داشت از بين رفتند. در دوران حج كه نمودار دوران افهام وتفهيم و اتحاد مسلمين است همه،

مسلمين جهان براي خداوند واحد در صف و لباس واحد مصروف عبادت واحد ميباشند و همه و همه يكصدا ميگويند «لبيك اللهم لبيك ....» .

تجمع حجاج در ميدان عرفات ياد ميدانِ حشر را تازه مي نمايد و پوشيدن كفن احرام نمودار روزي است كه با نواختن سور اسرافيل (عليه السلام) تمام مردم از قبرهاي شان بيرون آيند و به جانب پروردگار خويش ميدوند.

طريقهء صحيح و جامع حج

در روشنيء هدايات فوق وقتي حاجي به قصد رفتن و اداء نمودن مناسك حج، حين سوار شدن در طياره و يا موتر و يا كشتي بايد احرام ببندد، ليكن نيت و تلبيه قبل از ميقات را گفته نه مي تواند چون از نبي كريم ﷺ ثابت نيست يعني مطابق اعلان ميقات احرام ببندد و اللهم لبيك حجةً و عمرةً يا تنها عمرةً و يا تنها حجةً بگويد يعني قسمي كه حج ميكند آن طور نيت نمايد.

اقسام حج

حج بر سه قسم است:

حج تمتع، حج قران، حج افراد.

* حج تمتع: حج تمتع اينست كه وقتي حاجي به بيت الله برسد طواف كند و در بين «صفا» و «مروة» هفت دوره گردش كند و موهاي سر خود را بتراشد، احرام خود را باز نمايد، اين شد عمرة، بعداً بتاريخ هشتم ذي الحجة از قيام گاه خود احرام ببندد.

* حج قران: حج قران اينست كه حاجي در ميان عمره وحج احرام باز نه نمايد و حجامت هم نكند تا آنكه از حج فارغ گردد.

* حج افراد: حج افراد اين است كه حاجي عمرة نه كند تنها مناسك حج را اداء نمايد.

طواف: از خانهء كعبه هفت بار دوره زدن ويا گردش را طواف گويند، حين طواف د اشتن وضوء ضرور است اگر در عين دوران طواف وضوء شكست و يا وقت اداء نماز رسيد، طواف را در همان جا توقف نموده وضوء ونماز خود را اتمام نمايد بعداً از همان جاي كه طواف را توقف نموده دوباره شروع نمايد. اگر ممكن باشد قبل از شروع نمودن طواف حجراسود را ببوسد و يا به نشاني ايكه در برابر حجر اسود گذاشته شده اشاره نمايد، الله اكبر را گفته و طواف را شروع نمايد. بعضي اشخاص به شكل چند دسته اي جمع مي شوند و در هر دوره يك نفر شان دعائي مخصوص و خود ساخته را خوانده و ديگران آن را تكرار مي كنند كه اين عمل شان مطابق سنت رسول الله ﷺ نيست، دوره كدام دعاي خاص ندارد بلكه هر دعاء را خوانده ميتواند حتي قرآن كريم را نيز تلاوت كرده ميتواند، تنها در ركن يماني يعني گوشهء اولي حجر اسود وميان حجر اسود دعاي «ربنا اتنا في الدنيا حسنة وفي الاخرة حسنة وقنا عذاب النار» نقل شده و خوانده ميشود. براي بعضي اشخاص وقتي موقع ركن يماني ميسر نه شود برايش اشاره ميكند كه اين عمل نيز خلاف سنت بوده اگر ممكن نه باشد بگذارد، اشاره برايش نكند.

در دوران طواف به قدر توان آهسته آهسته دويدن و «اضطباع» (شانهء راست برهنه كردن) نيز سنت است يعني چادر خود را از طرف پائين به طرف چپ شانه بيندازد دوران هفت گردش را با «اضطباع» پوره نموده بعد از طواف شانهء خود را بپپوشاند، بعداً در مقام ابراهيم (عليه السلام)

اگر ممکن باشد دو رکعت نماز را اداء نماید اگر فرصت ندارد هر جا که فرصت یافت دو رکعت نماز را اداء نماید که در رکعت اول خواندن سورة «قل یاایها الکافرون» و در رکعت دوم خواندن سورة «اخلاص» مسنون است، بعد از اداء نمودن دو رکعت نماز به طرف چاه زمزم برود و خوب شکم سیر آب نوش جان کند و اگر ممکن باشد سر و صورت و تمام بدن خود را با آن تر نماید، بعضي اشخاص کفن خود را به آن تر میکند که این عمل نیز غیر شرعي است.

بعداً به طرف «صفاء» و بر سر کوه بالا برود و این آیت کریمه را تلاوت نماید: «ان الصفاَ والمروة من شعائرالله الایة» (بقره - ١٥٩)

بعداً روي خود را به طرف قبله نموده سه مرتبه این دعاء را بخواند: «لا اله الا الله وحده لا شریك له، له الملك وله الحمد وهو علي كل شئ قدیر ط . لا اله الا الله وحده انجز وعده ونصر عبده وهزم الاحزاب وحده» (رواه الطبراني)

بعد از دعاء فوق هر قدر میتواند دعاء نماید و گردش را شروع کند، وقتي که با رسیدن به «مروة» هفت گردش پوره گردید، بدون دعاء حرکت نموده مو هاي سر خود را حلق نماید، اگر حج «تمتع» باشد احرام را باز نماید و اگر «قران» باشد احرام را بسته نگاه‌دارد.

کار روز هشتم ذي الحجة:

روز هشتم ذي الحجة حاجي از اقامت گاه خود احرام میبندد و نیت مي نماید و تلبیه (اللهم لبیك حجة ...) مي خواند. بعضي اشخاص از آبراهه‌ء کعبه احرام مي بندد که این عمل مشروع نیست، بعد از طلوع آفتاب حاجي راساً به «مینا» میرود و نمازهاي ظهر، عصر، مغرب، عشاء و فجر را طوري اداء مي نماید که نماز چهار رکعتي را قصر وسنت فجر و وتر را ضروري اداء مي نماید.

کار روز نهم ذي الحجة:

روز نهم ذي الحجة بعد از طلوع افتاب حاجیان به میدان عرفه رفته و از اصل میدان عرفة بیرون اقامت مي نمایند. بعد از زوال افتاب نمازهاي ظهر وعصر را یك جا دو دو رکعت به یك آذان اداء مي نمایند بعداً داخل میدان عرفه مي شوند و تا مغرب مصروف ذکر الله تعالي و دعاء ها میباشند، وقتي که افتاب به صورت درست غروب کرد، حاجیان وارد «مزدلفه» گردیده، نماز هاي مغرب و عشاء را یك جا به یك آذان در وقت عشاء اداء نموده و به خواب میروند، ناگفته نه باید گذاشت که بعضي اشخاص قبل از غروب افتاب، که اصل وقت دعاء است،آمادگي رفتن به «مزدلفه» را میگیرند که این کار ضیاع وقت است باید ازش اجتناب کرده شود.

کار روز دهم ذي الحجة:

١- حاجیان نماز فجر روز دهم ذي الحجة را در «مزدلفه» با جماعت اداء نموده حین روشني و قبل از طلوع آفتاب به طرف «مینا» حرکت مي کنند، افراد معذور و معاونین آنها در نصف شب هم حرکت کرده مي توانند.درین شب اداء نماز تهجد از رسول الله ﷺ ثابت نیست.

٢- پیش از همه در «جمره عقبه» که بطرف مکه مکرمه نزدیکتر است هفت سنگچل جمره مي نمایند، با جمره هر سنگچل تکبیر مي گویند سنگچل را از «مزدلفه» و یا راه با خود میگیرند که وزن و ضخامتش به اندازه نخود مي باشد، بعضي اشخاص با بوت و بوتل هاي شربت شیطان را میزند و از زبانش الفاظ زشت و

نکوهیده شنیده میشود که این کار جایز نیست، چون جمره زدن هم عبادت است در عبادت استعمال الفاظ بد جایز نیست.

۳- بعد از فراغت جمره، اشخاصي که نیت حج تمتع و حج قران داشته باشند، قرباني مي نمایند و اگر قرباني کرده نه مي توانند ده روز روزه را طوري بگیرند که سه روز در ایام حج و هفت روز متباقي در بازگشت و بعد از رسیدن به خانه بگیرند، و اگر حاجي مفرد باشد، قرباني بالایش واجب نیست.

٤- حاجي بعد از اداء قرباني موهاي سر خود را حلق ویا میتراشد که تراشیدن آن بهتر است، بعداً احرام را باز نموده ولي به همسر خود مباشرت نه ورزند.

۵- بعد از فراغت و انجام دادن اعمال فوق حاجي به طرف مکه مکرمه حرکت نموده طواف خانه کعبه را انجام میدهد، بعد از اداء نمودن دو رکعت نماز اگر حاجي متمتع و قارن و مفرد سعي نه نموده باشند سعي نمایند، درین صورت او مکمل حلال شد ویا همسر خود یکجا شده میتواند.

کار روز یازدهم ذي الحجة:

حاجي شب یازدهم و دوازدهم ذي الحجة را در «منا» که بعد از حد «جمره عقبه» شروع میشود سپري میکند، و «جمره عقبه» در آن شامل نیست، بعضي حجاج شب را خارج از محدوده «منا» سپري میکنند که این کار شان درست نیست. بعد از زوال روز یازدهم شب جمعه حاجي از طرف مسجد «خیف» تکبیر گویان جمره میزند و بعد از جمره اولي ووسطي طوري مي ایستد و دعاء میخواند که جمره به طرف چپ و بیت الله به طرف راست حاجي باشد، بعد از «جمره عقبه» خواندن دعاء ثابت نیست بهتر است که راساً به طرف قیامگاه خود برود.

کار روز دوازدهم ذي الحجة:

حاجي در روز دوازدهم ذي الحجة نیز مانند روز یازدهم «جمره» میزند و قبل از غروب آفتاب میتواند که هر جا خواسته باشد برود ولي بهتر اینست که روز سیزدهم ذي الحجة نیز همانجا قیام نماید. بعضي اشخاص به روز دوازدهم میروند و براي جمره وکیل میگیرند که این کار شان درست نیست ولي اگر میرود رفته میتواند چون حجش پوره شده بعداً به «جمره» ضرورت نیست.

طواف الوداع

حاجي اگر بخواهد از مکه مکرمه بیرون حرکت کند ضرور است که طواف نماید این طواف را «طواف الوداع» مینامند. اگر براي زني در حالت «طواف الوداع» مریضي حیض و یا نفاس واقع گردد طواف بالایش واجب نیست و میتواند برود.

ممنوعات احرام

۱- وقتي حاجي احرام بست استعمال خوشبوئي ممنوع است.

۲- بعد از بستن احرام استعمال چتري و امثال آن جایز است.

۳- تراشیدن و یا حلق نمودن موي سر و استعمال پودر جایز نیست.

٤- گرفتن ناخن ممنوع است.

۵- مباشرت با همسر ممنوع است.

٦- براي مرد ها پوشیدن لباس دوخته شده ممنوع است و براي زنان بدون جراب و دستکش پوشیدن دیگر لباس جایز است و از مردهاي نامحرم ستر بکنند.

۷- تبدیل نمودن چادر هاي احرام جایز است و زنان نیز لباس هاي خود را تبدیل کرده میتوانند.

(وما توفیق الا بالله العزیز)

د اعتدال لاره

د شهید شیخ جمیل الرحمن «رحمه الله» له ویناؤ ځخه

بسم الله الرحمن الرحیم

د شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله هغه بیانیه چی د ۱۹۸٦میلادی کال د مارچ دمیاشتی په (۱۹) نیټه یی دجندول علاقی په تور کیمپ کی ایراد کړی وه، دعوت مجلی لازم وگڼله چی د خپلو گرانو لوستونکو په خدمت کی یی کټ مټ نشر ته وسپاری، هیله ده چه د استفادی وړ مو وگرځی.

محترمو علماؤ، مهاجرینو او انصارو ورونو!

دی جلسی ته چی مونږ راغلی یو، الله تعالی زمونږ په نیتونو ډیر ښه عالم دی، مونږ ددین د بیانولو فکر لرو کوم انتقامی فکر نه لرو. الحمد لله مونږ او تاسو ټول مسلمانان یو، په دی کیمپو نو کی چی کوم مهاجرین اوسیږی، که هغه د امام ابو حنیفه رحمه الله یا د امام شافعي رحمه الله او یا د کوم بل امام د نظریی پر چار کوی، یعنی که هغه د هر مجتهد امام د نظریی پیرو وي، مونږ یی مسلمانان گڼو، ددی حق ځانته نه ورکوو چی پرته له دینی اړخ ځخه یي په ذاتی او شخصی اړخونو بحث وکړو.

له څو کالو را پدیخوا د جندول د علاقی په کیمپونو لکه معیار او تور کیمپ کی په ځینو مسایلو حرج و مرج را پیدا کیږی. ځینی خلك غواړی چه پدی باب د مسلمانانو تر منځ دمذهبی اختلافاتو د فتنی اور بل کړی، دپاکستان له حکومت نه پدی باب ډیر ممنون یو چی پداسی وختونو کی یی مداخله کړی او د فتنی اور یی وژلی دی. شاید تاسو ددی کیمپونو خلکو ته به داسی هیڅوك نه وی راغلی او دا به یی درته نه وی ویلی چی ته «رفیع الیدین» وکړه یعنی ته په لمانځه کی لاس نه پورته کوی، پورته یی کړه.دا یی هم درته په جومات، حجره او یا کوم بل ځای کی نه دی ویلی چه ته «امین» په جهر یعني په زوره نه وایی او شاباس دا په زوره ووایه، زه ستاسی جومات ته راغلی یم ته لاس نه پورته کوی او زه یی پورته کوم، مگر مونږ او تاسو په یو صف کی جمع شوی یو، مونږ پدی باب کوم دعوت جبراً نه دی درکړی، خو همیشه تادا او حمله ستاسی لخوا شویده. «جماعة الدعوة» تاسی په مختلفو تهمتونو او الزامونو

متهموی. په مونږ او تاسو کي داسي خلك هم شته چه هغه امریکا او یا نورو انگریزانو ته په سجده پراته دی او ددوی په اشاره گډیږی او حتی داسي غواړی چه د افغانستان جهاد ددوي په گټه و څرخوی، مگر هیڅا په داسي خلکو نه آواز وکړ او نه یی پری لاس پورته کړ او پدی خبره همیشه حرج و مرج وی چه دلته وهابیان او یا غیر مقلدین پیدا شویدی.

دا خبره مخکی مو لانا صاحب غلام الله واضحه کړه چه مونږ وهابیان نه، غیر مقلد نه بلکه د قرآن او سنت د نظر یی طرفدار یو، د قرآن او سنت د نظریی طرفداری د صحابه کرامو تابعینو، تبع تابعینو، ائمه اربعهؒ او حتی ددی امت نظریه او کړنلاره ده. څوارلس سوه کاله وړاندی چه اسلام له کومی نقطی څخه حرکت کړیدی او دی وخت ته رارسیدلی دی، دا پدی مختلفو پیړیو کی د ټول مسلمان امت پیشه او مسلك ؤ بنه دا وه چی ددي علاقی دا کوم خلك چی دا رنگه مخالفتونه را پاروی، د وروری په فضاء کی سره نزدی ناست وای او دا رنگه مسایل مو سره د وروری په فضاء کي حل و فصل کړی وای او هغه څه چی دوي دروغ جوړ کړی دی او په مونږ پسی دروغ وایی، مونږ قناعت ورکړی واي چه **دا رنگه بی بنیاده دروغ مه وایاست، په دی دروغو ویلو ستاسی دیانت خرابیږی، پدی دروغو کی هغه دروغ ډیر بدترین وی کوم چه ددین په باب وی،** الله تعالی فرمایی: (إن الذين اتخذوا العجل سينالهم غضب من ربهم و ذلة في الحياة الدنيا) په دین کی چه څوك افتراء کوی د هغه جزاء په دنیا کی ذلت دی او الله تعالی یی په ذلت محکوموی. مونږ دا وایو مونږ به ددروغو قناعت ورکړی وای، دوی زمونږ په سلفي تحریك ډول ډول تهمتونه او الزامونه لگوی مونږ به ددی ډول تهمتونو قناعت او توصیه ورکړی وای چه د الله تعالی نه وویریږی او دا رنگه دروغ مه وایی. هغه مسایل چی مونږ یی کوو او زمونږ دعمل طریقه ده، پدی کی به مو دا در ښودلی وای چه دا ددین جزء دی، ولو که امام ابو حنیفه رحمه الله نه دی کړی، که امام ابو حنیفه رحمه الله نه وی کړی، د ابو حنیفه استاد به کړی وی، ابراهیم نخعي به کړی وی، عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه به کړی وی، امام شافعي، احمد اومالك (رحمهم الله اجمعین) به کړی وی، په اسلام کی له مؤمن سره په اسلامي آدابو چلیدل دا یواځی د حنفیت په چوکاټ کی ندي چه مونږ حنفیان یو او د دروغو او تهمت نه به ځان ساتو او د یو بل تائید او پشتیبانی به کوو، په اسلام کي موالات، دوستی، نیکه رابطه، تائید، نصرت او کمك د اسلام په عنوان باندی دی. «لا إله إلا الله محمد رسول الله» کلمه چی څوك وایی که هغه د هر امام تابع وی، خو ددوي تر منځ موالات او اسلامی دوستی فرض ده. پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایی: مثل المؤمن في توادهم و تعاطفهم وتراحمهم كمثل جسد واحد» د مؤمنانو تر منځ دوستی، رحمت او عاطفه، او پخپل منځ کی یو له بله سره د کمك پخاطر، د یوه جسد مثال لری. دا یی نه دی ویلی چه حنفیان به جدا او شافعیان به جدا قوت قایموی او ددوي تر منځ به حدود راځي، یو له بل سره به دمسلمانی رابطه، تعلقات، عاطفه او کمك ختموی. د اسلام په وړاندی دا حدود چه نن مسلمانانو پخپل منځ کی را پیدا کړی چه دا حنفیت دی، دا شافعیت دی ، دا عربیت دی دا عجمیت دی، دا افغانستانی دی او دا پاکستانی دی، دا حدود که د وطنیت په لحاظ منځته راغلی وی، که د سیاست په لحاظ، یا د رنگ او ژبی په لحاظ منځته راغلی

وی، لنډه دا چی که دا حدود په هر منظور منځته راغلی وی او یا که دا حدود د اسلام په داخل کی د هر مکتب فکر د ابتداء په لحاظ ټاکل شوي وی، دا ټول حدود اسلام ته غیر رسمي او اسلام یی په رسمیت نه پیژنی.

زما لپاره که زه د امام ابو حنیفه رحمه الله تابع هم شم او دا ووایم چه که هغه هر څه وایی دا ټول حق دی او زه یی منم.

خو ماته اسلام دا اجازت نه راکوی چه زه د امام ابو حنیفه رحمه الله د پیروانو په متعلق د اسلام ټول حقوق پوره نه کړم او اسلامی حدود مراعات نه کړم. زما مطلب دادی چی که دلته څه تنازعه موجود شوي وي دا به تنها تاسی زمونږ عمل لیدلی وی، دروغ به نه وایو صرف زمونږ په عمل به بحث کوو. مثلا مونږ رفیع الیدین کوو او تاسو یی نه کوئ، مونږ تاسی ته چیری هم دا نه دی ویلی چه تاسی هم لاس پورته کړئ او که پورته کړی مو نه دی نو څه الزام مو در باندی نه دی لګولی او که چا رانه تپوس کړی دی چه ولی لاسونه په لمانځه کی پورته کوئ نو په ځواب کی به مو ویلی وی چه په لمانځه کی لاس پورته کول مونږ ته قوی دلیل ښکاری او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نژدی تابعداری یی ګڼو. لیکن په تاسو مو لعن طعن نه دی لګولی دا مسایل څه اوس نوی نه دی را پیدا شوي، دا د نبی کریم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو له دور نه را پدیخوا روان دی، ددغه دورنه را پدیخوا ایمه رحمهم الله پدي باب پخپلو نظریاتو کی اختلاف لری، خو ټولو یو له بل سره اسلامی موالات نه دی قطع کړی او د اسلام د موحد وجود په تشکیل کی یی په مشترك ډول کار کړی دی.

هغه خلك چی حرج مرج او فتنه را پورته کوی زه دوي ته وایم که ستاسو سره اسلامي بصیرت او پوهه وی نو ستاسی د یو مسلمان په صفت فرض دادی چه زمونږ سره مخامخ کښینئ او خبري را سره وکړئ او که ستاسي سره اسلامي پوهه نه وی نو د عامو مسلمانانو د ذهنیت د تباه کولو او د مسلمانانو تر منځ په اسلامي روابطو باندی داسی حرکت کول چی هغه د مسلمانانو تر منځ د فتنی سبب ګرځی او بده اغیزه کوی دا یو لوی جرم دی پکار ده چه د الله تعالی نه ووېرېږئ ځکه چه دا ستاسی د آخرت لپاره ګټور عمل نه دی.

دا څنګه امکان لری چه تا د غره په سر کی عمر تیر کړی دی او ما په جامعه او مدرسه کی عمر تیر کړی دی، ما خپل عمر د اسلام د تعلیم لپاره وقف کړی او ستا د عمل ریکارډ قابل د دی نه دی چه انسان یی یاد کړی. د مثال په توګه به زه یوه واقعه بیان کړم: یو وخت زه په دم کلی کی وم او محمد شریف خان دکنړ والی ؤ، دا مولاهم ؤ او د مرافعي قاضی هم پاتی شوی ؤ، ګیره ئی هم خروله او نکتایي به یی هم پغاره وه او کوټ او پتلون به یي اغوستی وو مګر ژرنده او جومات یی نه پیژانده ماته ئی یو ځل وویل چه ته امام ابو حنیفه رحمه الله نه منی؟

ما ورته په ځواب کی وویل چه که د امام ابو حنیفه رحمه الله له جومات او قرآن سره تعلق ؤ او ددین عالم ؤ، نو زه یی منم مګر ته یی نه منی! او که چیری امام ابو حنیفه رحمه الله داسی ؤ چه ګیره یی خرولی وی او کوټ پتلون یی پغاره کړی او نکتایی ئی اچولی وی او په دسترخوان ورته شراب ایښی وی نو زه خو بیا داسی ابو حنیفه نه منم ځکه هغه خو به بیا ستا په شان وی. له

علماؤ سره د امت د علماؤ تعلق وی، له علماؤ سره د مسلمانانو تعلق وی، څومره چه د اسلام په نسبت په سړی کی نیمګړتیاوی موجودی وی هغومره یی د امت له علماؤ سره تعلق کم وی، که امام ابو حنیفه، امام شافعي،امام مالك او امام احمد بن حنبل رحمهم الله اجمعین په آخرت کی را ژوندی شی نو هغوی به خپل تعلق او برأت اعلانوی، هغوی به له هغو خلکو څخه چه په ژوند کی یی ددوي صحیح پیروی نه ده کړی او یوازی دسیاست او دنیوی او مادی اغراضو پخاطر یی د هغه نوم استعمال کړی دی، هغه به له داسی خلکو نه بیزاری او برأت کوی، زما مطلب دا دی چه مونږ مسلمانان یو او د اسلام مصدر چه د اسلام احکام تری اخستل کیږي هغه یوازی «قرآن او سنت» دی الله تعالی پخپل کتاب کی فرمایی:

«وکیف تکفرن و أنتم تتلی علیکم أیة الله و فیکم رسوله» د هدایت دواړه منبعی او سر چینی ستاسی په وړاندی موجودی دی چه هغه کتاب او سنت دی، نو تاسی څنګه کافر کیږئ یعنی د کفر نه د بچ کیدو لار یوازی قرآن او سنت دی.

د افغانستان د «جماعة الدعوت» تنظیم رئیسان یا نور اعضاء او مسئولین هیچا ته دا دعوت نه دی ورکړی او نه یی ورکوی چی ای خلکو تاسو ددی مذهب نه دی بل مذهب ته واوړی. خو دومره ده چه په هر مسلمان باندی د حق لټه او تلاش ضروری دی، یعني کوم ځای کی چه تاته حق ورسید هلته به پری عمل کوی ځکه دا د مسلمانۍ فرض دی، پدی منظور چی حق یوازی د کتاب او سنت نه معلومیږي، د کفر او الحاد نه د بچ کیدو لار یوازي کتاب او سنت دی. «جماعة الدعوة» اسلامي مدارس تاسیس کړی دی او هم ستاسی اولاد پکی دینی زده کړه کوی او دینی علوم زده کوی، تاسو ټول کولی شئ چه دغو مدارسو ته ورشئ او وګورئ چی په مدارسو کی څه لوستلی کیږی، پدغو مدارسو کی صرف کتاب او سنت او د همدی کتاب وسنت په خدمت کی چی کوم علوم دی هغه لوستل کیږی. ددی بد قسمتو خلکو کله پدغو مدارسو حملی وی، کله یی ددی تنظیم په مشرانو حملی وی. مونږ ته خپل اسلامي آداب دا اجازت نه راکوی چی مونږ د مقابل طرف په ټولو ابعادو بحث وکړو، خو مونږ د مسلمانۍ دعوت ورکوو او ورته وایو چی دی قرآن او سنت ته راشئ! مونږ ستاسی مسلمانان ورونه یو! تاسو چی هره خطایی په مونږ کی وینئ او یا مو ولیده د کتاب او سنت له لاری مونږ ته قناعت راکړئ. هغه څوك چی د امام ابو حنیفه رحمه الله د مذهب تابعداری کوی، دوی ته حنفیان ویلی شی، څوك چی د امام شافعي رحمه الله د مذهب پیروی کوی دوی ته شافعیان ویلی شی او هغه څوك چی ددي څلورو واړو امامانو او څلورو واړو مذهبونو پیروی کوی هغوي ته اهلحدیث وایی.

ځکه ددی څلورو واړو امامانو مشترك نظر دا ؤ چه په هغه څه عمل وکړئ له کومه ځایه چي مونږ اخستل کړی دی چه هغه کتاب او سنت دی، مونږ د څلور واړو امامانو تابعدار یو او ددوی پیرو یو. ځینی خلك داسی فکر کوی چه که د امام ابو حنیفه رحمه الله یوازي تابعداری دی وکړه دا دده احترام دی او که تابعداری دی ورته ونه کړه نو دا احترام نه دی. لنډه دا چی د امت د ټولو علماؤ احترام داد دین فرض دی نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی:

«إن من إجلال الله إکرام العالم و في شیبة المسلم» څوك چی د الله تعالی په لویي او جلال عقیده او ایمان لری هغه به د عالم او سپین ږیری عزت ساتی.

د علم پخاطر د عالم سپکاوي او توهین کفر دی ددین د ائمه ؤ او مجتهدینو سپکاوی کفر دی او د یو مسلمان سپکاوی کول فسق دی، مونږ د ټولو امامانو رحمهم الله عزت کول او ددوی احترام ساتل د خپل دین جزء گڼو، دا اعتراض بالکل دروغ او بې بنیاده دی چې په «جماعت الدعوة» کې را تاله خلك ائمه ؤ ته کنځل کوی او ددی دروغو او افتراء به الله تعالی ته ځواب ورکوی، خلك په مونږ باندی د وهابیانو نوم ږدی او د عبدالوهاب نجدی نوم ته مو منسوبوي، محمد ابن عبدالوهاب یو دینی عالم دي چې دوه سوه کاله وړاندی تیر شویدی، مونږ د محمد بن عبدالوهاب نه ددین پخاطر دفاع کوو، ځکه محمد بن عبدالوهاب د توحید د عقیدی احیاء او تجدید کړی دی او له بله پلوه یې د استعمار پر ضد جهاد کړي دی. د محمد ابن عبدالوهاب حیثیت د انگریزانو له طرفه د مسلمانانو په اذهانو کې بد کښیناستلی دی او دا ددي لپاره چې د محمد ابن عبدالوهاب د استعمار ضد تحریك په مسلمانانو کي عام نشی. دا یو عالم دی، خپل تصانیف لری چې "کتاب التوحید" هم ددی عالم یو تصنیف دی. د ټولو علماؤ په وړاندی زمونږ دا یو چیلنج دی چه که د نوموړی په کتاب کی مو څه خطایي و-موندله مونږ دا منو ځکه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه پرته چه د هغه الله تعالی عصمت نصیب کړی دی او هغه په بیان او رسالت کی نه خطا کیږی د هغه نه را پدیخوا که صحابه کرام وو او یا نور ددین علماء دی کله کله د حق په رسولو او بیانولو کي کمزوری لري او خطاء کیږي. مونږ وایو که محمد ابن عبدالوهاب په کومه خبره کی خطاء شوي وی دا سمه ده ځکه هغه هم انسان دی، خو البته عالم دین دی او د احترام او دفاع تری د مسلمانئ په اساس د امام ابو حنیفه، امام شافعي، امام مالك، او امام احمد رحمهم الله په شان فرض ده.

دا چی مونږ د کافرانه قوتونو په مقابل کی ذهناً ماتی خوړلی ده چه هغوی د چا متعلق پروپاگنده وکړی مونږ ته هغه بد صورت او بد نما ښکاری او که همدغه خلك (انگریزان) څوك پخپلو الفاظو کی ښکلی کړی مونږ ته ښکلی وی. دا یو غربی ذهنیت دی، دا ذهنیت باید نفي کړی شی. د ټولو علماؤ فرض دی چی د محمد ابن عبدالوهاب کتابونه ولولی او د بی ځایه لعن طعن مخنیوی وکړی او اصولی مسئله دا ده چه اقوالو ته یی نظر وشی او اقوال یی د قرآن او سنت په تله وتلی چه حق ته ورنزدی دی که په ټوله مسئله کی خطا شویدی د مسلمانئ اداب دادی چه دده دخطا مغفور کول او عفوه کول پکار دی، نه دا چه د لعن او طعن الزامو نه پرې ولگوی، د عالم له خطا نه فتنه جوړول بد دیانتی ده، د یو عالم دین د ژوند ټولو اړخونو ته باید نظر وشی د هغه اعمال، سلوك او آدابو ته باید نظر وشی، که یو سړی د یو مجتهد او یو عالم د ټول ژوند څخه نظر قطع کړی او یو خطا قول یی را اخلي او د فتنی لپاره یی دلیل گرځوی دا په دین کی فتنه را اوچتول او بد دیانتی ده. محمد بن عبدالوهاب رحمه الله هم یو عالم دین دی د شرك ، بدعت او استعمار مقابله یی کړی ده محمد بن عبدالوهاب په داسی وخت کی منځته راغلی دی چه دا تیار خوارهٔ یعني د زیارتونو منجوران چی د خلکو ددین او عقیدي لوټماران دي، ددروغو کرامات یی جوړ کړي وی، څوك چی ورشی اول یی عقیده لوټ کړی او وروسته چی په جیب کی څه لری هغه تری لوټ کړی. محمد بن عبدالوهاب دداسی خلکو مقابله کړی ده. پیغمبر صلی الله علیه وسلم ولی د زیارت القبور اول وخت کی منع فرمایلی وه ځکه چه شرك په دنیا کی

د قبر پرستۍ څخه منځته راغلی دی، د یعوق، صواع او نصر متعلق حضرت عبدالله بن عباس فرمایي: دا نیکان بندګان وو چې مړه شول، نو خلك د هغوی په قبرونو باندی کیښیناستل او لدی وجې نه شرك منځته راغی. پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ابتداء کی د زیارتونو له تګ څخه منع کړی وه چې قبرونو ته به نه ځئ! خو څه وخت چې اسلامي عقیدی د خلکو په زړونو کی ځای ونیو او پدی پوه شو چه قبر ته د ژوندی د تګ څه مطلب دی د زیارت القبور مطلب ددي مړی سره احسان کول دی چې سلام پرې وشي او دعاء ورته وشی او دا احسان دیو مسلمان په بل مسلمان حق دي، دقبر د تګ اجازت یی ورکو. مونږ وایو د محمد بن عبدالوهاب سره زمونږ د مسلمانۍ تعلق دي، د اسلام له مخی د محمد بن عبدالوهاب او نورو ټولو ائیمه ؤ آداب او احترام زمونږ فرض دی، نور مو د محمد بن عبدالوهاب سره څه خصوصی تعلق نشته، نه د هغه په مذهب یو او نه د کوم بل عالم په مذهب یو. پیغمبر صلی الله علیه وسلم او دهغه صحابه چې په کومه لار تللی دی مونږ هم په هغه لاره ځو او دغه مو مذهب دی، زمونږ له ټولو هغو ورونو نه چې دلته اوسیږی، که هغه زمونږ مدارسو ته خپل ماشومان لیږی او که نه دا خواهش دی چې زمونږ له طرفه په تاسو تعرض او تادا نشته تاسو هم کم له کمه اسلامي حقوق او حدود مراعات کړئ او تادا مه کوئ، تادا د فتنی سبب ګرځی ، په چا پوری چې تاسی تړلی یاستئ، هغه سیاسی اعتراض کوی او وایی چې دا وخت د داسی خبرو نه دی ځکه پلانی ځای کی تری فتنه پیدا شوه، مونږ هم ورته وایو چې دا وخت ددی خبرو ندی مګر دا فتنه چا را پیدا کړی؟ داسی کسان زمونږ مقابلی ته تحریك کیږی چې نوره دینی پوهه لا څه چې په الف-با نه پوهیږی، دداسی ناپوهو کسانو له امله چې هغه په سیاسی لحاظ تحریکیږی او د فتنو د رامنځته کیدو سبب ګرځي، او بیا هم په مونږ الزام لګوی چې فتنه منځته راځی خو مونږ وایو چې ددي فتنی د را منځته کیدو عامل څوك دی؟ تاسی په خپل علم او پوهی عمل کوئ او مونږ په خپل علم او فهم عمل کوو، زمونږ له طرفه خو تر اوسه کومه تادا نه ده شوی او نه مو چاته د الزام ګوته نیولی ده مګر همیشه د دارنګی فتنو رامنځته کیدو عاملین مقابل لوری دی. نن مدرسه ورانوی، سبا رپورټ حکومت ته ورکوی، کله بیا سپك سپك کلمات استعمالوی لنډه دا چې مقابل لوری د ډول ډول جنایاتو او فتنو مرتکب کیږی. خو اوس مونږ وایو چې تاسی د هری فتنی د پیدا کیدو په صورت کی مونږ ته وایی چه دا وخت ددی نه دی نو اوس مونږ ضرور وایو چې دا .وخت ددی دی چه د حق لټه وشی په کتاب او سنت علم حاصل شی، د کتاب او سنت د علم د حاصلیدو په سلسله کی چه کوم رکاوټونه څوك را پیدا کوی، دا جهاد چې نن په افغانستان کی روان دی دا د عقیدی په قوت چلیږی، دلته کوم بل قوت وجود نلری، دلته کوم منظم قوت او فوځ نشته، خو څه انتظام چې منځته راغلی دا د عقیدی او اسلام پخاطر منځته راغلی او دا عقیده او ایمان په قرآن او سنت ژوندی کیږی، که د افغانستان د جهاد په سنګرونو کی و ګورئ د ژوند د نورو طبقو د خلکو په نسبت دهقان او چوپان ډیر دی ددی دهقان او چوپان سره خو دا غم هم نشته چې زه د چوکۍ لپاره و-جنګیږم، دا د چوکۍ لپاره نه جنګیږی، ځکه د چوکۍ استعداد نلری، پدغه سنګر کي په سلو کی سل مرګ دی نور هیڅ په لاس نه ورځی ژوند له لاسه ورکوی او د ایمان په

طاقت د آخرت گټه کوی دا ایمان او عقیده چی انسان دغه مقام ته رسوی دا د قرآن او سنت طاقت دی دا جهاد به ادامه لری د افغانستان د جهاد په باب مختلفی دسیسی روانی دی غواړی چی دی جهاد ته توقف ورکړی، د مسلمانانو جهاد او قربانی ضایع او تباه شی د کومی غایي او هدف لپاره چی دا جهاد شروع شویدی هغه د مسلمانانو په لاس ور نشی. د افغانستان د مجاهد او مسلمان ملت سره ددی خبری غږ هم ضروری دی هغه څه چي الله تعالی مسلمان ته حکم کړیدی او جهادیی د څه لپاره فرض کړی دا به ضروری حاصلیږی او یا به ددی غایی او هدف د گټلو لپاره پدی لاره کی شهادت گټو، دا عزم او اراده چي که مونږ وغواړو چی مضبوطه پاتی شی دا به په اسلامي فهم او اسلامي شعور باندی مضبوطیږی، دا پرته د اسلامي فهم او شعور نه نه مضبوطیږی، دا عزم او اراده په دنیوی قوت او دنیوی لالچ نه بلکه په هغه عقیده چی د انسان په نفس کی قرار لری او هغه ایمان بالله او ایمان بالآخرت دی ایمان په جنت او ایمان په دوزخ دی دا دیر مسلمان یو فعال او محرك قوت دی دا به مجاهد له غره او سمي نه له کور او کلی څخه د جهاد لپاره میدان ته راولی. زه خپلی خبري نوری نه اوږدوم ځکه مولانا غلام الله صاحب تاسی ته مفصل بحث وکړ، نور ددی ضرورت نشته چي ستاسی وخت ونیسم او نور تکلیف در کړم خو زه ټولو هغو ورونو ته چی زمونږ سره تعلق لری دا وایم چی ستاسی فریضه دا ده چه که څوك ستاسی په مقابل کی معاندانه رویه هم اختیاروی تاسو به د اسلامي آدابو له مخی د هغوی په مقابل کی پیش آمد کوی، هغه ورونه چی د سیاسی او مادی اغراضو پخاطر زمونږ پر ضد ولاړ دی مونږ هغو ته توصیتاً وایو چی پدی کی ستاسی ددنیا او آخرت دواړو خیر نشته خیر، سعادت او هدایت مو پدی لار کی دی چه د حق ملگرتیا وکړئ او په حقه لاره لاړ شئ او که بیا خامخا ستاسی د دی حقی لاری په هکله کوم شك موجود وی او ذهن ته مو څه شك او تشویش مواجه کیږي له مونږ سره مخامخ کښینئ، په ځای ددی چه په کیمپونو کی بی ځایه حرج مرج او فتنی را پیدا شی راشئ او زمونږ سره مخامخ د مسلمانی په چوکاټ کی د یو مسلمان ورور په صفت کښینئ او پدی باب راسره خبره وکړئ او مونږ ته هغه خطاگانی چه ستاسی په خیال کی د شك موجب شویدی د اسلام په چوکاټ کی را په گوته کړئ او د اسلام له لاری قناعت راکړئ. زمونږ مسلمانی به دا وی چه هغه به منو!

ټول ورونه خپل اختیار لری چی په کومه درس گاه کي د ځان او اولاد لپاره لازمه گڼی او د علم او زده کړي لپاره درس ته ورځی، وردی شی، خواه که هغه د اهلحدیثو مدارسو ته ورځی،که د اشاعت التوحید مدارسو ته ورځی، د جماعت اسلامي مدارسو ته ورځی که دیوبندی مدارسو ته، دا ټولی اسلامي هدي دی مگر په یو بل باندی لعن طعن مه کوئ!

دا ستاسی لپاره د دنیا او آخرت په ضرر تمامیږی او له بلی خوا د پاکستان حکومت ته هم یو سر دردی او کړاؤ پیدا کیدل دی. هغه څوك چي زمونږ او ستاسی د مهاجرینو د خدمت لپاره مقرر شویدی زمونږ دغه رنگه صورت حال د هغوی په نظر کی ډیر بد معرفي کیږی چی په نتیجه کي د مهاجر اصلی خدمت زیانمن کیږی. و آخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین.

داسلامي انقلاب د بري نه وروسته ۱۵۵۹٤٤ مهاجرين د بهرنه راغلي دي

خو د کابل نه ۱٦٥٦٠.. مهاجرين په بده ورځ وتلي دي

جمعه خان شينواری

د قوماندانانو، عالمانو د نظر د خاوندانو او مسؤلينو سره د مرکو په لړ کې ددعوت د مجلې خبريال د ننګرهار د ولايت د مهاجرينو د رئيس محترم ميا جمعه خان شينواری سره مرکه کړی ده چه په لاندی متن سره وړاندی کيږی:

پوښتنه: په ننګرهار کی د مهاجرينو رياست څه وخت او په کوم منظور جوړ شويدی او عمده وظائف يي څه شی دی؟

جواب : د مهاجرينو رياست لا هغه وخت چی روسان د هيواد نه ووتل د مجاهدينو د عبوری دولت په تشکيل کی موجودوو خو د مجاهدينو د فتحی سره جوخت په ننګرهار کي تاسيس شو او مقصد ئی دا دی چه هيواد ته د راستنيدونکو مهاجرينو پوری مربوطی مسئلی وڅيړی او لازمی مرستی ورسره وکړي، ولی د بده مرغه دا وخت دغه رياست ددی په ځای چه د بهر نه د راستنيدونکو افغان مهاجرينو پالنه وکړی، په داخل کی د تنظيمی او بی مفهومه جنګونو له امله د شلو مياشتو راهسی زمونږ ټول توان او ځواک دهغو مهاجرينو دپاره وقف دی څوك چی په ډيره بده ورځ د کابل او نورو جنګی سيمو څخه راوزی او اکثره ئی د پاکستان په نيت ختيز ته ځانونه را رسوی.

پوښتنه: د اسلامي انقلاب د بری نه وروسته دپاکستان څخه د تورخم د لاری څومره مهاجرين ننګرهار او نورو ولاياتو ته تللی دی او ددی رياست له خوا ورسره څه مرستی شوی دی؟

جواب: د اسلامي انقلاب د بری نه وروسته تردی وخته پوری د پاکستان د اسلامي دولت او په خاصه توګه د صوبه سرحد څخه د تورخم د لاری (۱۵۵۹٤٤) افغان مهاجرين ننګرهار ته راغلی دی چه ددی جملی څخه ئی (٤٨٧٢٠) کسان د هيواد د

مختلفو ولایاتو ته تللی او نور ئی په ننگرهار ، لغمان او کنړونو کی خپلو کورنو ته ستانه شوی دی. باید وویل شی چه مونږ صرف د خپلو محدودو امکاناتو په لړ کی ددوي د کرای او کورونو د انتقال بندو بست کړی دی. خو اوس اوس بر عکس د مهاجرینو د راتګ په ځای د هیواد نه دوباره مهاجرت لړی شروع شوی ده او په دی لړ کی مو د وارداتو نه د صادراتو گراف لور تللی دی.

پوښتنه: د کابل د شلو میاشتو شدیدو او وقفوی جنگونو په ترځ کی تر اوسه څومره کورنی شرقی ولایاتو ته راغلی دی او په څومره کمپونو کی ځای په ځای شوی دی؟

جواب: په کابل کي خو د اسلامي انقلاب د هماغه اولی ورځی نه جنگونو پیل شو ی دی، خو د تیر کال د اسد د میاشتي څخه را پدی خوا چه د کابل د جنگونو له امله کومی کورنی مهاجری شوي زیاتره ئی پاکستان ته اوښتي او یوه اندازه ئی د جلال آباد د ممتاز بنړ، هدی فارم، په بیلا بیلو باغونو، د تګاب په کمپ او د شار شاهی ددوسرکی په کمپ کی د نړیوالو خیریه ټولنو په همکاری ځای په ځای شوي دی او د مهاجرینو دغه سلسله اوس هم په شدت سره دوام لري.

د یوی احصایه له مخی دا وخت دممتاز بنړ په کمپ کی (۱۱۰۰) د هدی په فارم کی (۲۵۰۰) د تګاب په کمپ کی (۲۷۰۰) په باغونو کی (۵۰۰) او ددوسرکي په کمپ کی (۷۵۰۰) مهاجری کورنیو ته خیمی ورکړی شویدی خو د یا دونی وړ ده چه (۱۳۵۰) کورنی چه د کابل د جنگونو څخه د دوسرکي کمپ ته راغلی دی او د لسو ورځو راهیسی د خیمو او امکاناتو د نشتوالی په وجه په سپین داګ پرتی دی او یوازي دشپی له طرفه لس دولس کورنی د یو ترپال لاندی اوده کیږی.

د پورتنیو مهاجرینو سره نړیوالو خیریه موسسو د خوراکی او ضروری شیانو مرستی پیل کړی دی خو څرنګه چه جنگونه جاری دی مهاجرینو د جلال آباد خواته په شدت سره را روان دی دپاك افغان سرحد تړلی دی ځکه نو د مرستو په وقفه کی مونږ نشو کولای د نوو راغلو مهاجرینو سره سملاسي او په وخت مرسته وکړی شو.

که چیری د تورخم بندر بند شوي نه وائی دومره مشکلات نه پیدا کیدل ددی سرحد په تړلو سره نه یوازی د مهاجرینو ټول بوج په ننگرهار ولایت راغي بلکه د غذائی موادو لړوالی او د شیانو د قیمتونو لوړوالی په عمومی صورت د شرقي ولایاتو ستونزی زیاتی کړی دی ځکه نو پدی وسیله د ننگرهار د مهاجرینو اپیل د پاکستان حکومت ته دادی چه د پخوا په شان سرحد خلاص وساتي او دافغانانو سره د اسلامي وررولی او ښه گاونډیتوب د اړیکو په لړکي خپلو مرستو ته دوام ورکړی او موجوده بندیزونه دی لری کړی شی.

پوښتنه: که چیرې په همدې قوت د کابل مهاجرین ننګرهار ته را وچلیږي ددې ریاست عاجل او فوق العاده اقدامات به څه وي؟

جواب: که چیرې زمونږ جهادي مشران د جنګونو څخه لاس وانخلي او په همدې قوت سره مهاجرین جلال آباد ته را روان وي مونږ هم پرته له دې نه چه ګاونډیو هیوادونو او نړیوالو خیریه ټولنو ته د مرستې لاس اوږد کړو بله چاره نلرو، تر کومه ځایه چه د ننګرهار ، کنړ، او لغمان د ګډې جهادي شورا په امکاناتو پورې اړه لري نو دا د مهاجرینو سره د مرستې د پاره نه څه خاصه بودجه لري او نه د مرکزي حکومت سره څه شته دې چه د جنګ ځپلو دپاللو د پاره ئې اختصاص کړي ځکه نو د مهاجرینو اقتصادي مشکلات ورځ په ورځ زیاتیږي او څه به مو د لاسه نه کیږي.

پوښتنه: ددې د پاره چه د مهاجرینو مشکلات د یو مخې حل او دغه سلسله قطع شي ستاسو د نظر ټکي څه شي دي؟

جواب: د مهاجرینو مهاجرت د ټولو بدبختیو منبع او سرچینه زمونږ هغه جهادي مشران دي چه څوارلس کاله مو ددوی په آمر او قوماندہ مقدس او وسله وال جهاد وکړ خو اوس چه دوي د جهاد اصلي اهداف غلط کړي او د قدرت د نیولو په سرئې په جنګونو او تباهې لاس پورې کړې دی بله هیڅ منشأ او مبدأ نلري حکه نو د مهاجرت سره د وداع د پاره یوازینی لاره همدا ده چه جنګونه بند شي او زمونږ مشران د یوی اسلامي انتظامي په جوړولو صلاح شي په غیر ددینه به هیڅکه د مهاجرت کړاونه حل نکړی شي.

پوښتنه: تاسو د یو مجاهد په حیث دجماعت الدعوت الی القرآن السنة د باني مرحوم شیخ جمیل الرحمن رحمه الله او ددې جماعت جهادي هویت ته په کومه سترګه ګوري؟

جواب: د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة مؤسس مرحوم شیخ جمیل الرحمن رحمه الله نه یوازې د یو متبحر عالم په حیث په منطقه کې وتلې شخصیت ؤ بلکې د جهاد په کلونو کې دده سیاسي او عقیدتي مبارزه د لمر په شان یو ځرګند حقیقت دی چه د قرآن اوسنت د حاکمیت دپاره ئې خپل سر کیښود او ددې حقانیت پلوشې ئې د هیواد په هر لوري کې خپرې کړي.

د مرحوم ددې خبرې د قوت نه دده هود سنه ځرګندیدلی شي چه ویل به ئې: اسلامي امارت باید په ټوله دنیا، یا په یوه هیواد یا که نه وي نو په یوه ولایت یوې ولسوالې او حتی یو کلي کې خود هر عالم او مجاهد فریضه ده، چه دغسې یو امارت ټینګ کړي، زما په نظر جماعت الدعوة دجهاد په کلونو کې في سبیل الله جهاد کړې دی او اوس هم د خپل مرحوم مشر به قدم استوار په مخ ځي.

گوشه از معرفی سلسله دعوت و دعات

فضیلت دعوت بسوی الله جلاجلاله

الله جلاجلاله فرستاد رسولش را با هدایت ودین حق، ، و آولین امری که الله تعالی بر رسولش فرمود این بود که: **بیاایست و بترسان (یا ایها المدثرط قم فأنذر)**

ترجمه: ای کسیکه خودرا در لحاف پیچیده ای، بیایست و بترسان.

واولین کاریکه به آن رسول اش صلی را امر فرمودند دعوت بسوی الله تعالی بود، به خاطر این که دعوت بسوی الله تعالی در نزد او تعالی منزلت و عظمت خاصی دارد.

این یك حقیقت مسلم است که در طول تاریخ وضع اجتماعی و انفرادی بشر نسبت به عوامل شروفساد بیشتر جذب و متأثر گردیده و میگردد بناءً راجع به رهائی اش ازین شروفساد ناگزیر است تا از وسائلی استفاده شود که به اساس آن بشر مطابق به فطرت اصلی خویش بتواند زیست کند، پس بهترین وسیله، که درین رابطه مؤثر است آن ضرورت دعوت بسوی الله تعالی میباشد البته به آن طریقه نیکه منقول و مطلوب است.

راجع به فضیلت دعوت بسوی الله تعالی و راجع به امتیاز داعی درین رابطه نصوص متعددی وارد شده به طور مثال:

۱- ازین جمله ارشاد الله تعالی است که دعوت بسوی او تعالی را به احسن القول تلقین فرموده اند: **«ومن احسن قولاً ممن دعا الی الله و عمل صالحاً و قال اننی من المسلمین»**(سورة فصلت ۳۳).

ترجمه: وکیست زیاد بهتر از لحاظ قول از آن که دعوت میدهد بسوی الله تعالی ومیکند اعمال صالح و میگوید بیشك من از جمله، مسلمین هستم.

۲- وهمچنان الله تعالی دعوت بسوی او تعالی را راه انبیاء علیهم السلام و تابعین آنها قرار داده وفرموده آند: **«قل هذه سبیلی ادعوا الی الله علی بصیرةٍ**

انا ومن التبعنی»....(سورة یوسف-۸ ۱۰).

ترجمه: بگو این راه من است دعوت میدهم بسوی او تعالي با بصیرت کامل من وهمچنان کسي که تابع من شده.

۳- وهمچنان محمد رسول الله صلى به حضرت علی رضی الله عنه فرموده آند: (من دعا الی هدی کان له من الاجر مثل اجور من تبعه لا ینقص ذلك من اجورهم شیأ)

ترجمه: کسیکه دعوت داد بسوی هدایت هست براي او از اجر مثل اجر کسیکه تابعداري آن هدایت را کرد، کم نه میشود از اجر ایشان هیچ چیزی.

و همچنان از مهمترین مقتضی دین مبین اسلام چنین فهمیده میشود که اسلام راجع به دعوت بسوی او تعالي و اهتمام همه جانبه درین مورد از حد زیاد حرص داشته و دارد زیراکه دعوت یك ذریعهء تغییر در مفاهیم باطله از طریق خطاب عقلی و قلبی که مزین با حجت و نصیحت و بیان باشد بوده است، و همچنان اگر دقیق متوجه شویم وسیرة طیبه رسول الله صلى را مطالعه نمائیم در میابیم که دعوت بسوي او سبحانه و تعالی در طول عمر بیست وسه ساله محبوب رب العالمین محور حیاة پاك آن حضرت صلى بود تا اینکه با رفیق اعلی مواصلت یافت و آن حضرت صلى بود که به آهل مکه اکابر و صغار، اصیل وغلام، مردان وزنان مکه دعوت می دادند وهمچنان دعوت میدادند به آنانیکه به غرض اداء حج و یابه زیارت بیت الله الحرام به مکه مي آمدند، وهمین ذات گرامي صلى بودند که به نفس نفیسش به طرف طائف مسافرت مي نمودند وکار دعوت بسوی او تعالی را مي فرمودند، وهمین صلى بودند که به مدینه منوره مهاجرت فرمودند و مسجد خود را بناء و ممبر را بلند ساختند، در حالیکه دعوت میدادند و تعلیم و تربیت مي فرمودند وهمین رسول الله صلى بودند که أصحابش (رضی الله عنهم اجمعین) را به مناطق، قبائل و شهرهای مختلف مي فرستادند تا اهالی آن را بسوی دین او تعالی دعوت دهند. وهمین رسول الله صلى بودند که در اطراف جزیرة العرب به بادشاهان آن مناطق توسط خطوت دعوت جهت دخول در دین مبین اسلام می فرمودند وهمچنان سیرة اصحابش و تابعین (رضي الله عنهم) همین دعوت بسوی او تعالی بود، واین یك شرف عظیم است به کسانیکه دعوت بسوی او تعالی را میدهند و خود را باقافله نیکه دعوت به او تعالی مي فرمایند ضم می سازند که رسول الله صلى درین مورد می فرمایند: «نضرالله امرأ سمع منا حدیثا فحفظه حتی یبلغه فرب حامل فقه الی من هو افقه منه».

ترجمه: روشن باد کسیکه بشنود از من حدیثي را تا برساندش به دیگران، چه بسا کساني آند که میرساند براي کساني که از او داناتر آند.

ورحمت بی پایان او تعالی بر عمر رضي الله عنه باد که آن رضي الله عنه می فرمودند: «ثنا وستایش به آن ذاتیکه برحمت فرستاد بندگان خویش را به اینکه در هر زمانه رسالت را بدوش بقایایٔ اهل علم یکي بعد دیگري گذاشتند تا آنان دعوت دهند بسوی دین وهدایت به کسانیکه راه درست را گم کرده اند، و در صورت تکلیف و ایذاء درین راه بر اینها صبر میکنند، و کسانیکه از کتاب الله چیزی را نه میبینند آنها را بصیرت می بخشند، وبرروي خیلي ها از کشتگان ابلیس باب زندگي نو را باز می نمایند، خیلی ها گمراه به راه هدایت باز میگردند، و اینها هستند که در راه دعوت بسوی او تعالی از مال وجان وخون خود گذشتند و بندگان او تعالی را بفضلش از هلاکت امان بخشیدند پس چی اثر برازندهء بر بندگان او تعالی دارند از منزلت بلند اینها بی خبر نه باید بود».

روگردانی از دعوت بسوی او تعالی در حقیقت روگردانی از الله تعالی و از رسول الله صلی بوده است. علمایٔ ما راجع به دعوت الی الله و اهمیت شان چنین بیان فرموده اند: دعوت بسوی او تعالی فرض کفایه است بلکه حافظ ابن کثیر (رحمه الله) در تفسیر این قول او تعالی: «ولتكن منكم امة يدعون الى الخير» (سورة آل عمران ١٠٤) می فرمایند: المقصود من هذه الاية أن تكون فرقة من هذه الامة مستعدة لهذا الشأن وان كان ذلك واجباً على كل فرد من الامة بحسبة».

ترجمه آیة: و ضرور باید باشد از شما یك گروهی که دعوت بسوی خیر میداده باشند.

ترجمهء تفسیر: مقصد از این آیت اینست که باشد یك گروه از همین امت اماده به این کار صاحب شان اگر چه باشد آن لازم بر هر فرد از امت حسب ضرورت شان.

و در عصر حاضر درحالیکه جاهلیت از نگاه نظریات و عقاید و عادات و تقالید رشد و تقویت یافته دعوت بسوی او تعالی اهمیت زیادی دارد، طوریکه شما به هر جهت رو میگردانید این آثار را می بینید حتی که درخانه، درمدارس ودر نشریات و درهمه جا، و ازین جا است که راجع به دعوت الی الله در دور حاضر چشم به انتظار می شود تا الله تعالی از روی رحمت بی پایان خویش بتوسط این دعوت بسوی الله تعالی باب تمام فسادات را مسدود گرداند، وهمچنان بعضی از جماعتها که در سلسلهء دعوت بسوی او تعالی در تردد و اشتباهات باطله افتیده اند از کردار شان باز آیند و بروی مردم این را تقدیم کنند: «ديناً قيماً ملة ابراهيم» (الانعام -١٦١)

په تیر پسې

د دین مفهوم

مرحوم : کلیم الله «متین»

په ډیره خواشینۍ سره مو خبر اخستي چې ددې مضمون لیکونکی مرحوم کلیم الله «متین» د روان عیسوی کال د اپریل د میاشتې په دویمه نیټه د (۶۲) کالو په عمر د ورپیښې ناروغۍ له کبله له دې فاني دنیا نه رخصت شویدی (انا لله و انا الیه راجعون).
د اروابناد «متین» صاحب لنډې سوانح به په ځانګړې ډول نشرشي، خو مونږ یواځې دومره یادونه کوو چې له دې نیمګړې دنیا نه تلپاتې دنیا ته د «متین» صاحب انتقال په اسلامي فرهنګ خصوصاً په پښتو او دری ژبو کې هغه خالیګاه رامینځته کړه چې د ډکون لپاره ئې ډیر وخت او زمان ته اړتیا ده. مونږ ددعوت مجلې کارکوونکي په داسې حال کې چې د الله بخښلي روح ته دعاګانې لیږو او د رب العزت د رحمت په سیوری کې ورته د مقام غوښتنه کوو، کورنۍ ته ئې د زړه د صبر او عظیم اجر غوښتونکي یو، له اروابناد «متین» صاحب نه د جاریه صدقې په ډول هغه لیکنې پاتې دي چې الله تعالی به ورته ډیرې ښې بدلې عنایت کړي ، روح ئې ښاد او یادونه ئې تازه!
انشاء الله
(اداره)

یوه بله موضوع داده چې ځینو خلکو ولیدل چې د کوم دین د قائمولو حکم چې انبیاؤ علیهم السلام ته ورکړې شوی دی هغه د ټولو انبیاؤ تر منځ مشترك دی او شریعتونه ئې بیل بیل دی، لکه چې الله تعالی فرمائي:

«لکل جعلنا منکم شرعةً و منهاجاً، نو هغوی ځکه عقیده څرګنده کړه چې هرومرو ددې دین څخه مراد شرعي احکام او اوامر نه دي بلکه یوازې د توحید، آخرت، کتاب او نبوت منل او د الله تعالی عبادت کول دي یا لږ تر لږه پکې هغه لوی لوی اخلاقي اصول شامل دي چې په ټولو شریعتونو کې مشترك دي. خو دا یو سطحي او کمزوری فکر او عقیده ده چې ددین وحدت او د شرائعو اختلاف ته په کتلو سره منځ ته راولړ شوی ده اوډاسې خطرناکه عقیده او رأی ده چې که چیرې اصلاح نه شي نو ورو به خبره ددین او شریعت هغه لوی تفریق ته ورسیږي چې په هغې کې د ښکیلاك له امله «سینټ پال» مسیحي مذهبي مشر د بې شریعته دین نظریه وړاندې کړه او د مسیح علیه السلام دین ئې ګډوډ کړ. ځکه چې که چیرې شریعت له دین څخه څه جلا او ځانته بل څه شی وي او حکم یوازې ددین د قائمولو وي نه د شریعت د قائمولو، نو لامحال او هرومرو به مسلمانان هم

خپل دین د عیسائیانو په څیر بی اهمیته وګڼی او د هغه قائمول به هم بی مقصده او بی هدفه کار وګڼی او صرف ایمانیات او څو لوی لوی اخلاقی اصول به واخلی او بس. ددی دپاره چی ددی دول قیاسیاتو په رڼا کی ددین د متعین مفهوم دپیژندنی په ځای آخر مونږ پخپله ولی د الله تعالی کتاب ته مراجعه ونه کړو چی د کوم دین د قائمولو حکم چی پکی ورکړی شوی دی وګورو چی آیا هغه یواځی ایمانیات او څو لوی اخلاقی اصول دی یا داچی شرعی احکام هم پکی شامل دی؟ هغه وخت چی د قرآن تتبع وکړو او په غور سره ئی وګورو نو په هغه کی څو شیان په دین کی شمیرل شوی دی چی ځینی ئی پدی دول دی:

۱- وما امروا الا لیعبدوا الله مخلصین له الدین حنفاء و یقیموا الصلوة و یؤتوا الزکوة وذلك دین القیمة (البینه - آیت ۵).

ترجمه: او هغوی ته بی له دی بل حکم ورنکړی شو چی یو اړخیز شی (یوطرفه شی) او خپل دین د الله تعالی دپاره خاص کړی او د هغه عبادت وکړی او لمونځ ټینګ کړی او زکوة ورکړی او دغه په سمه لاره د تلونکی ملت دین دی.

ددغه آیت څخه څرګنده ده چی لمونځ او زکوة په دی دین کی شامل دی، پداسی حال کی چی ددغو دواړو احکام په بیلو بیلو شریعتونو کی بیل بیل وو. هیڅوك دا نشی ویلی چی په ټولو تیرو شریعتونو کی د لمانځه شکل او طریقه همداوه چی اوس ده، یا همدغه شان اجزاء، رکعتونه پکی وو او همدغه ئی قبله وه، دغه ئی اوقات وو او دغه شان ئی نور احکام وو. همدغه شان د زکوة په باره کی هم څوك دا ادعا نشی کولی چی په ټولو شریعتونو کی همدغه نصاب او دغه شرحه او د تحصیل او ویش همدغه طریقی او احکام وو چی اوس دی. خو د شرایعو د اختلاف سره سره الله تعالی دغه دواړه شیان په دین کی دننه شمیرلی دی.

۲- حرمت علیکم المیتة والدم ولحم الخنزیر وما اهل لغیرالله به والمنخنقة والموقوذة والمتردیة والنطیحة وما اکل السبع الا ما ذکیتم وما ذبح علی النصب وآن تستقسموا باالازلام ذلکم فسق* الیوم یئس الذین کفروا من دینکم فلا تخشوهم و اخشون الیوم اکملت لکم دینکم و اتممت علیکم نعمتی و رضیت لکم الاسلام دینا (المائده - ۳).

یعنی: ،" ستاسی لپاره حرامه کړی شوه مرداره غوښه، وینه او د بدلیوځ غوښه او هغه څه چی بی له الله تعالی د بل چا په نوم ذبح کړی شوی وی او کوم چی له ستونی خپه کړی شوی یا ټپی شوی یا له لوړ دنګ ځایه غورځیدلی یا کوم ښکرور ځناور په ښکرو وهلی مړ شوی وی. یا کوم څیرونکی (درنده) ځناور وژلی وی، بی له هغه چی تاسی ئی ژوندی وړینئ او ذبح ئی کړئ او هغه چی په کومه استانه کی ذبح کړی شوی وی. همدغه راز ستاسی لپاره حرام کړی شو هغه څه چی تاسی د فال نیولو په غشو خپل قسمت معلوم کړئ دغه کارونه ټول فسق دی. نن ورځ کافران ستاسی له دین څخه نامینده شوی دی نو تاسی ورڅخه مه ویریږئ بلکه زما څخه وویریږئ، ما نن ستاسی دین ستاسی دپاره بشپړ (مکمل) کړ او خپل نعمت می تاسی ته پوره درکړ او د اسلام دین می ستاسی لپاره غوره کړ."

نوددغه آیت کریمه څخه څرګنده شوه چی دغه ټول د شریعت احکام پخپله دین هم دی.

۳- «قاتلوا الذین لایؤمنون بالله ولا بالیوم الاخر ولا یحرمون ما حرم الله ورسوله ولا یدینون دین الحق." (التوبه- ۲۹)

یعنی:" د هغو خلکو سره جګړه وکړئ چی په الله او د آخرت په ورځ ایمان نه راوړی او څه چی الله تعالی

او د هغه رسول حرام کړي دي هغه حرام نه ګڼي او حق دين خپل دين نه ټاکي."

څرګنده شوه چې په آخرت باندې د ايمان راوړلو سره د حلالو او حرامو احکام منل او په هغو حکمونو باندې پابند او مقيد اوسيدل هم هغه دين دی چې الله تعالی رالېږلی او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم راوړی دی.

٤- الزانية والزاني فاجلدوا کل واحد منهما مائة جلدة ولا تأخذکم بهما رأفة في دين الله ان کنتم تؤمنون بالله واليوم الاخر (النور - ٢)

يعنی:" زنا کاره ښځه او زناکار سړی دواړه هر يو تن سل دورې ووهئ او په هغوی باندې زړه سوی دی د الله تعالی ددين په چارو کې ستاسې مخه ونه نيسي که چېرې تاسې په الله تعالی او د آخرت په ورځ ايمان لرئ."

ماکان لياخذ اخاه في دين الملك الا ان يشاء الله (يوسف - ٧٦)

يعنی:" يوسف (عليهم السلام) د باچا په دين کې مجاز نه ؤ چې خپل ورور ئې نيولی وای خو د الله تعالی په خوښه ئې ونيو."

له دې نه معلومه شوه چې جزائي قانون هم دين دی. که چېرې څوك د الله تعالی په جزائي قانون عمل کوي نو هغه د الله تعالی ددين منونکی دی او د الله تعالی په دين روان دی او که څوك بې د الله تعالی له خوښې نه د باچا په دين عمل کوي هغه به د باچا په دين روان وي.

دغه څلور آياتونه هغه نمونې او مثالونه دي چې په هغو کې د شريعت حکمونه په څرګندو ټکو کې په دين سره تعبير شوي دي، خو په دې سرېېره که چېرې په غور سره وګورو نو څرګنده به شي چې په کومو ګناهونو چې الله تعالی ددوزخ د عذاب خبر ورکړی دی مثلاً (زنا، سود خوړل، د مؤمن وژل، د يتيم مال خوړل او په ټګۍ سره د خلکو مال خوړل يعنی خيانت کول او داسې نور) او کوم جرائم چې د الله تعالی د عذاب موجب ګڼل شوي دي (مثلاً د لوط عليه السلام د قوم عمل او د راکړې ورکړې په چارو کې د شعيب عليه السلام د قام رويه) ددغو چارو مخنيوی په حتمي توګه په دين بايد وشميرل شي." ځکه چې که چېرې دين د جهنم له اور او الهي عذاب نه د خلاصون او نجات لپاره نه دی راغلی نو د څه دپاره راغلی دی؟ همدغه شان د شريعت هغه حکمونه هم بايد ددين برخه وي چې له هغو څخه سرغړونه د خلود النار (دتل دپاره د اور) د عذاب سبب کيږي. مثلاً: د ميراث حکمونه، چې د هغو په باره کې ارشاد شوی دی چې: ومن يعص الله ورسوله و يتعد حدوده ، يدخله ناراً خالداً فيها و له عذاب مهين. (النساء- ١٤)

يعنی:" څوك چې د الله او د هغه د رسول نافرماني او د هغه له حدودو (قانون) څخه سر وغړوي نو الله به ئې په دوزخ کې واچوي او د تل لپاره به پکې ميشت وي او دهغه لپاره رسوا کونکی عذاب دی".

همدغه شان د کومو شيانو حرمت چې الله تعالی په پوره شدت او قطعيت سره بيان کړی دی، مثلاً د مور، خور او د لور حرمت، د شرابو حرمت، د غلا حرمت، د جوارۍ (قمار) حرمت او د دروغو د شهادت حرمت، که چېرې ددغو شيانو تحريم ددين په اقامت کې شامل نه کړی شي نو معنی به ئې دا وي چې الله تعالی ځينې غير ضروري احکام هم ورکړي دي چې مقصد ئې د هغو اجرا نه ده. همدغه شان هغه کارونه چې الله تعالی فرض کړي دي، مثلاً روژه او حج، نو هغه يوازې په دې بهانه ددين له اقامت څخه ويستلی نه شي چې د رمضان ديرش روژې خو په پخوانو شريعتونو کې نه وې او د کعبې حج هم يوازې په هغه شريعت کې ؤ چې د ابراهيم عليه السلام د اولاد (داسماعيل عليه السلام څانګې) ته ورکړی شوی ؤ . .

په اصل کی غلط فهمی او اشتباه یواځی له دی عمله راپیدا شوی ده چی ددی آیت «لکل جعلنا منکم شرعةً و منهاجاً» یعنی،« مونږ ستاسی څخه د هر امت لپاره یو شریعت او یوه لاره ټاکلی ده» غلط مطلب اخستل شوی او داسی معنا وراغوستل شوی ده چی گوندی شریعت د هر امت ځانته ؤ او حکم یوازی د هغه دین د قائمولو ورکړی شوی دی چی د ټولو انبیاؤ تر منځ مشترک ؤ ، نو ځکه ددین د اقامت په حکم کی د شریعت د اقامت حکم شامل نه دی، په داسی حال کی چی په حقیقت کی ددغه آیت دا مطلب اخستل چی پوره مو بیان کړی بیخی برعکس دی، په سورة مائده کی چی په کوم ځای دغه آیت راغلی دی د هغه پوره سیاق او سباق ته چی د (٤١) آیت نه تر (٥٠) آیت پوری دی په پوره غور سره ولوستل شی نو ښرگنده خبره ده چی ددغه آیت سم صحیح مطلب،دادی چی د کوم پیغمبر امت ته چی کوم شریعت ورکړی شوی ؤ هغه د هغه امت لپاره دین هم ؤ او د هغه د پیغمبری په دوران کی د هغه شریعت اقامت مطلوب ؤ، اوس څنگه چی د محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت دوران دی نو ځکه د محمدی امت لپاره چی کوم شریعت ورکړی شوی دی هغه ددغه دوران لپاره دین دی او د هغه قائمول ددین قائمول دی. پاتی شو ددغو شریعتونو اختلاف نو د هغه مطلب دانه دی چی د الله تعالی رالیږلی شوی شریعتونه پخپلو کی د یوه بل متضاد وو. بلکه مطلب ئی دادی چی د هغو په جزئیاتو کی د حالاتو په لحاظ یو څه توپیر شته. د مثال په توگه لمونځ او روژی ته وگوری، لمونځ په ټولو شریعتونو کی فرض دی خو قبله د ټولو شریعتونو یوه نه وه او د هغو د لمونځونو او زمونږ د لمانځه په رکعتونو ، ارکانو او وختونو کی هم فرق ؤه. همدغه شان روژه په هر شریعت کی فرض ده خو په نورو شریعتونو کی د رمضان دیرش روژی نه وی ددی نه دا نتیجه اخستل صحیح نه ده چی مطلقاً لمونځ او روژه ددین په اقامت کی شامل دی خو په یوه خاصه توگه لمونځ کول او په یوه خاصه توگه روژه نیول ددین له قائمولو نه خارج دی بلکه سمه او صحیح نتیجه داسی باید واخستله شی چی دهر پیغمبر د امت لپاره چی د هغه وخت په شریعت کی د لمونځ او روژی لپاره کومه قاعده ټاکلی شوی وه په هغه وخت کی د هغی سره سم لمونځ کول او روژی نیول ددین قائمول وو. او اوس ددین قائمول دادی چی ددغو عبادتونو لپاره په محمدی شریعت کی کومه قاعده او لاره ښوره کړی شوی ده د هغی سره سم دی اداء کړی شی. ددغو دواړو مثالونو په رڼا کی د شریعت ټول حکمونه قیاس کیدی شی. ددغه موضوع په پای کی یعنی ددغه بیان په (٥٠) آیت کی پوښتنه شوی ده چی «افحکم الجاهلیة یبغون ط یعنی، دوی (انکار کونکی) چی د الله تعالی له قانون څخه مخ اړوی نو د جاهلیت فیصله او حکم غواړی؟» او په ځواب کی ورته وائی چی؛ «ومن احسن من الله حکماً لقوم یوقنون؛

"او حال دا چی څوک چی په الله یقین لری د هغوی په نزد له الله هیڅوک زیات ښه فیصله کونکی نشته"

دلته د جاهلیت عبارت د اسلام په مقابل کی استعمال شوی یعنی هر هغه څه چی د اسلام په ضد دی هغه جاهلیت دی او د اسلام دین او لاره سراسر علم او پوه، رڼا او ترقی یافته او پر مخ تللی لاره ده، ځکه دغی لاری ته الله تعالی رهنمائی کړی ده او هغه په ټولو حقائقو پوره عالم او پوره پوه او خبردار دی او ددی برعکس هره هغه لاره او طریقه چی د اسلام څخه مختلفه ده هغه د جاهلیت، حماقت، بی عقلی او ارتجاع لاره ده.

«نوربیا»

د کشمیري مسلمانانو وینې به تر څو بهیږي؟

هرچاته خپل وطن کشمیر دي
ماته کشمیر دي د کابل سیمه ماکونه

دا د پښتو ژبې هغه مشهوره ټپه او لنډۍ ده چې پښتانه ئي د خپل وطن سره د مینې او محبت د تظاهر لپاره استعمالوي او دا هغه وخت چې کله د خپل وطن او ټاټوبي څخه جلا په نورو ملکونو کې د څه ناخوالو سره مخ شي نو د خپل هیواد قدر ورشي او د زړه تسل پرې وکړي.

دا حقیقت دی چې خپل وطن ډیر خوږ او په زړه پورې وي او هر په آزادۍ مئین قوم ئي نه یواځې د ژوند په شان ضرورت محسوسوي بلکه خپل ژوند پرته له خپل وطنه نه غواړي. څرنګه چې هر انسان فطرتاً د یو آزاد او خپلواک ذهن خاوند دی نو همیشه ئي دا ارزو وي چې آزاد او خپلواک باید و اوسیږي.

کله چې انسان ددنیا په مخ قدم ایښې دی، په دوه ډ فریقو او طبقو ویشل شوي دي. یوه ئي هغه فریقه ده چې الهي حکم منونکې ده او بله هغه چې د الله تعالی د حکم نه ئي سرغړونه کړې او باغي شوي ده. ددې دواړو طبقو په زړونو کې یو نه په خلا کیدونکې بغض او کینه لویدلې ده او له یوبل سره همیشه په کشمکش او جنګونو کې نښتي دي.

ددې کشمکش اور هسې هم د پخوا زماني راهیسې لږېدلی دی او د تاریخ په بهیر کې همیشه مشت و ګریوان پاتې شوي دي، خو موږ ددوهمې نړیوالي جګړې راپدې خوا ورته لږ غونډي نظر کوو او د هند په نیمه وچه کې د کشمیر حالاتو ته ګوته نیسو.

ددوهمې نړیوالي جګړې را پدې خوا دې کشمکش ډیره یوه ژوره معاندانه رویه اختیار کړې ده. د صلیبي جنګونو نه وروسته چې کفري ځواکونو په ښکاره ډول د مسلمان ځواك لځوا په هر میدان کې ماتې خوړلې ده نو په پټو او تخریبي لاس وهنو ئي پیل کړې دي او پوخ عزم ئي کړې دي چې مسلمان ملت به چیرې هم سوکاله ژوند او خپل اختیار ته پرې نږدي. دغه تخریبي سهونستانو د خپل دغه عزم او تصمیم تجربې په فلسطین، سومالیا، افغانستان، بوسنیا او د هند تر ولقې لاندې کشمیر کې څه تر سره کړې او څه لګیا دي ترسره کوي ئي.

د مثال په ډول کله چې په افغانستان د شوروي یرغل ترسره شو، افغان مسلمان ملت ئي بنه په نره او میړانه ځوارلس کاله مقابله وکړه، افغان مسلمان ولس له هر ډول مالي او ځاني قربانۍ نه دریغ ونکړ او په دې لار کې ئي هر ډول قربانۍ ته سینه ډال کړه چې بالاخره د شرق سور استعماري ځواك ئي نه یواځې د افغانستان له خاورې شرمیدلی وشاړهٔ بلکه د نړۍ له مخه ئي ددې د زیرځواکتوب نقشه ورانه کړه او دغه لویه استکباري امپراطوري ئي ګډه وډه کړه.

د سهونستانو دغه بې شرمانه عملیات د پخوا په شان اوس هم په فلسطین، بوسنیا او کشمیر کې روان دي او ددوي دغه رنګ عملیاتو چې همیشه مسلمانان د جنګ او جګړې په اور کې ښکیل غواړي په دې وروستیو وختو کې د جنګ او جګړې دغه لړۍ

يُن ته هم ورسيده او شمالي او جنوبي يُن په خپلو منځو کي سره په ډيره خطرناکه جګړه کي سره کيوتل.

په هر صورت زمونږ اصلي موضوع د هند تر سلطې لاند کشميردي. د کشمير مظلومو مسلمانانو هسي خو له ډيره وخته د آزادۍ د لاس ته راوړلو کوششونه او هڅي شروع کړي دي مګر د تيرو دوه-دري کالو راهيسي ئي يو مسلح پاڅون او جهاد د آزادۍ د لاس ته راوړلو دپاره پيل کړي دي.

کشمير د هند په نيمه وچه کي هغه ښکلې او ښيرازه وادي ده چي د نړۍ سياحان ورته د جنت تشبه ورکوي مګر نن هغه سرسبزه وادي د بي ګناه مسلمانانو په وينو سره او د هندي مظالمو ننخښه ګرځيدلي ده. هره ورځي ددي وادۍ بي شمېره ميانډي بوريږي، ښځي کونډي کيږي او ماشومان يتيمانان کيږي او مظلوم مسلمانان د هند په هره ظالمانه شکنجه تعذيبږي.

د افغانستان د ازادۍ وروسته د اسلام دښمنان کوښښ کوي چي د جهاد هغه ثمري د کومو لپاره چي د يونيم ميلون څخه زيات شهيدان ورکړ شوي دي، سبوتاژ کړي. همدغه شان د کشمير په بابله د اسلام ضد ځواکونه لګيا دي او د کشمير د مظلومو مسلمانانو د ازادۍ کوششونه ناکاموي خو د تيرو دوه ۋ کالو راهيسي د کشمير ازادي خوښونکي مسلمانان لګيا دي او ورځ په ورځ د خپلي ازادۍ هلي ځلي تُندي او ګړندۍ کوي.

د نړۍ مطبوعات هره ورځ د کشميري مسلمانانو کارنامي او جدوجهد په لويو سرليکونو کي خپروي او د کشمير مسئله د مطبوعاتو يوه اهمه موضوع ګرځيدلي ده.

د هند پنځه شپږ لاکه مسلح پوځيان چي د کشميري مسلمانانو د خپلو او ټکولو په خاطر د کشمير وادي ته ليږل شوي دي، په ځاي ددي چي کاميابي حاصله کړي، د يوي ورځي نه بلي ورځي ته د شکست او ناکامي سره مخ کيږي. د نظامي تجزيه نګارانو وينا ده چي د هند حکومت د کشمير د مسلمانانو د جدوجهد څخه دومره په تنګ راغلي چي له کشمير څخه د باعزته وتلو لار لټوي، نو مونږ هم وايو چي هند هرڅومره د کشمير په مسلمانانو له ظلم او تشدد څخه کار واخلي نشي کولاي چي د اسلام د ننګيالو حوصلي او حقي ارادي ناکامي کړي، ځکه دا تجربه د نړۍ په تاريخ کي د ختيځ زبرځواك تر وروستيو امکاناتو پوري وکړه مګر کومي مثبتي نتيجي ته ونه رسيد.

په کومه پيمانه چي کشمير کي په بي ګناه مسلمانانو چي په کي بوډاګان، ښځي، ماشومان او ځوانان شامل دي ظلمونه کيږي، د ملګرو ملتونو او د بشر د حقوقو دساتنې اداري پري ډيرۀ ښې خبر دي او ددي په ځاي چي د هند د حکومت ددغه ظالمانه رويې ترديد او مخنيوي وکړي له بده مرغه د کشميري مسلمانانو د حقوقو په حصول سترګي پټوي او خاموشي اختياروي. په اوسني وخت کي دوه لويې لانجي چي بين المللي شکل ئي اختيار کړي دي هغه يوه د بوزنيا او بله د کشمير لانجه ده.

ملګري ملتونه هم څه عجيبه پاليسي لري که د خليج په معامله کي ئي د عراق په خلاف د کويټ په سر څه پاڅون او تپوس کولي شو نو نن د بوسنيا او کشمير هم کولي شو. په هر صورت په کويټ کي د ملګرو ملتونو د امنيت د شوري چي پکي لويديځ هيوادونه غړيتوب لري خپل فوايد په نظر کي ښکاريدل او د ملګرو ملتونو سازمان د همدغو هيوادونو څخه تشکيل دي، نو د ملګرو ملتونو د کشمير د لانجي د هواري دپاره دا قرارداد پاس کړي چي په کشمير کي دي آزادانه انتخابات تر سره شي او کشميريان دي د خپل سرنوښت فيصله وکړي. مګر د هند حکومت د ملګرو ملتونو ددي قرارداد په حقله داسي نظر ورکوي چي انتخابات دي وشي، خو کشميريان دي د يو ازاد رياست دپاره نه بلکه د هند د حکومت په حق کي دي ووټ او رايه استعمال کړي او ددي کار د کيدلو لپاره د هند حکومت له راز راز چلوټو څخه کار

واخست او داسي کسان ئي په کشمير کي توظيف کړل چي په اصطلاح د کشمير سياسي ليډران دي. ددي کار لپاره هم يو شيخ محمد عبدالله دي چي د «نشنل کانفرنس» رهبري په غاړه لري، شيخ محمد عبدالله هند د خپلي آلي په ډول په کشمير کي استعمال کړ، شيخ عبدالله د هندي حکومت لپاره د کشميريانو څخه ډيره ښه استفاده وکړه چي د کشميرۀعوامو د کرکي او نفرت درجه ورته تر دي حده اوچته شوه چي اوس ئي په قبر هم د هندي پوځيانو څوکي وي چي اوس ئي خوي هم په ډهلي او برطانيه کي ژوند تيرولو ته مجبور شويدي.

په کشمير کی څو واری د انتخاباتو عمل تکرار شويدي. د هند حکومت د خپل موقف د مخالفينو يعني د هغه آزادی پسندو اشخاصو د نامزادگی کاغذونه مسترد کړل او مخالف کانديدان يی گرفتار او محبوس کړل. د ۷۵ نشستونو له جملی څخه يوازی په دوه نشستونو انتخابات وشول او نور ټول پرته له مقابلی هند نوازو اشخاصو ته وسپارل شول.



د هند حکومت نن دا ادعا کوی چه کشمير د هند يوه نه بيليدونکی برخه ده، مگر تاريخی شواهد پدی گواه دی چی کشمير د هند يوه برخه نه بلکی يو خود مختاره رياست دی او په تاريخ کی د يو خود مختار رياست په

نوم پیژندل شویدی. د هند دا دعوه بالکل بې بنیاده ده او تاریخ حقائق د هند ددې ډول دعوې تکذیب کوي. په دې سیمه ډېرو غیر مسلمو حکومت کړی دی مګر له دې وروسته پرې مسلمانانو هم حکومت کړیدی. همدا رنګه ډوګره حکمرانانو پرې څه کم او زیات یوه پیړۍ حکومت کړی دی.

په ۱۹۴۷ میلادي کال کې چه کله د پاکستان او هندوستان ویش کیده، کشمیر یو خود مختاره او آزاد ریاست ؤ، هند اوس ادعا کوي چه د ۱۹۴۷م کال وروسته «مهاراجا هري سنګ» د هند له حکومت سره د ضم کیدو معاهده کړیده، خو د هند دا دعوه ځکه څه حقیقت نلري چې مهاراجا هري سنګ د کشمیري عوامو نماینده نه ؤ چه کشمیر خاوره هند ته سپاري. اصل حقیقت دادی لکه څنګه چې ددې خبرې مخکې تذکر وشو چه ډوګره حکمرانانو په کشمیر تقریباً یوه پیړۍ حکومت کړیدي، دې حکمرانانو په کشمیري عوامو د ډېر ظلم، تشدد او غیر انساني سلوك څخه کار اخیست نو په ۱۹۴۷م کال کې کشمیري مسلمانانو د ډوګره حکمرانانو خلاف پاڅون او جهاد پیل کړ، دغو حکمرانانو د کشمیر مرکز «سری نګر» پریښود او جمو ته وتښتیدل، که د هندي حکومت سره څه معاهده د کشمیر په باب لاسلیك کړی هم وي، خو څه قانوني حیثیت نلري ددې رنګه لاسلیك په باره کې د یادولو وړ خبره دا هم ده چه دا لاسلیك جعلي دی او مهاراجا دا لاسلیك ندی کړی.

یو برطانوي محقق او مصنف «السټر کیمپ» او د هري سنګ زوی د هند سره د کشمیر د الحاق په باب نا-قابل تردید دلایل وړاندې کړي دي او وائي چه دا لاسلیك جعلي دی او هري-سنګ پدې معاهده لاسلیك ندی کړی.

یو وخت هند د کشمیر په باب دا فیصله هم کړې وه چې د کشمیر ددفاع، خارجه چارې، کرنسۍ او مواصلاتو نه پرته نورې ټولې چارې به د کشمیر ریاست ته حواله کیږي چې دا یو ډول داخلي خپلواکي وه، له څه وخت وروسته هند په خپلې دغې فیصلې دتنسیخ کرښه راښکله او د کشمیر د ناجائز تسلط لپاره ئې نور مستحکم اقدامات وکړل او کشمیر ته ئې د یوې عامې هندي صوبې درجه ورکړه او په خپلو حدودو کې ئې ضم وشمیره. د هند حکومت ددې ناجائزو کوششونو د ثبوت لپاره د ۱۹۴۷م کال د هري سنګ لاسلیك شوې معاهده وړاندې کړه او ئې ويل چې ددې معاهدې په لړلو سره د هند حکومت ته دا حق حاصل دی چه په کشمیر کې د نورو ایالتونو غوندې هر څه وکړي او خپل قوانین تطبیق کړي.

د څه وخت له شورشونو نه وروسته دا مسئله هندوستان پخپله ملګرو ملتونو ته د فیصلې لپاره وړاندې کړه او په بین المللي سطحه ئې دا قرار-دادونه و منل چه دا رنګې کړنه د هند لپاره د کشمیر د نه ضم کیدو د معنی مترادفه ده.

د هند په اساسي قانون کې ددې خبرې ذکر هم شته چه د هند وسله وال پوځونه نشي کولای چې د کشمیر په داخلي چارو کې دخیل شي. بیا هم هند د خپل اساسي قانون له دائرې څخه بهر وځي او وسلوال پوځونه ئې د بې ګناه مسلمانانو وینې توییوي، د مسلمانانو عزت لوټ کوي لنډه دا چه د هر ډول جنایت څخه دریغ نه کوي.

د ۱۹۹۰ کال را هیسې د کشمیر په وادۍ کې پر لپسې اضطراري حالت نافذ دی چې دا کار د هند داساسي قانون خلاف دی. اوس هند دې خبرې ته هم وزګار ندي چه په خپل ائین کې د کشمیر په باب ترمیم وکړي. نن د کشمیر مظلومه خاوره د هند د وسلوال پوځ لپاره یو نظامي ډګر ګرځیدلې دی او د شپږو لاکو څخه زیات کمانډوز ئې د کشمیري مسلمانانو په قتل عام بوخت دي. خو انشاء الله العزیز هر ظلم پای لري او د شهیدانو وینې ضرور د آزادۍ او خپلواکۍ رنګ راوړي.

دا وزې چې ماره شي

کاف لام

دا تـــاوده تاوده چــــې يـــخ کيني ساړه شـــې
د کــــلونـــو وږی تــــږی چــې مـــاړه شـــــې
دا بــې وخـــته لــویان شـــوی چــې واړه شـــــې
دا بـــې پلاره زلــــیان شـــوی چـــې زاړه شــــــې

بیا بـــه زه وکړمه د حق او عـدالت خـــبری
هـــم به بیا وکـــړم د انسان او انسانیت خبـــری

چې لـرم غوندی ئې خـــپل بـچي خـــواړه شـــې
لکـــه نــورو غونــدي دوئ هــم پــه کـالـه شـــې
يــو تـــربلـــه ظــــالمان غـــوښه او چـــاړه شـــې
د وحشت ښــــکرونه ئي مـــات او یا کـــاږه شي

بـــیا بـــه هلــــته سره وکـــړو حسابــــونه
تیر تاریـــــخ بـه مغکي پروت وي کـــتابونه

خـــواږه خـــواږه تـــرخه تـــرخــــــه پــاتي شـــو
پـــه کـــــي زمونږه نـــــه هـــر څــه پاتـي شو
زمونږ پر مخ دي دنيا والو ته نور څـــــه پاتي شو
اوس به تاريخ کړي قضاوت که بد او ښه پاتي شو

د تاریخ پاڼـــو نه هیڅکله پټیدلـــــــي نشي
د حسابېـږنه په هيڅ وخت کي تښتيدلي نشي

اوس دي حالاتو ته کتلي څوک شي
دغي وحشت ته تېنګېدلي څوک شي
پدي سره اور کي اوسيدلي څوک شي
ددوي په څير ګوره کيدلي څوک شي

وربه کري څوک نن د وروري لاسونه
يا د کومک او همدردي لاسونه

دا انقلاب له انقلابه پيداکيږي ياره
دغه جذبات او احساسات به راپاريږي ياره
پدي سوکونو به کاږه واړه سميږي ياره
بيا به له بيرو مرحلو حالت ښه کيږي ياره

دا د اوبو کنډول لبريز دي نور توييږي ګوره
حالات خو ورځ په ورځ نازکه دي بدليږي ګوره

د ټولو چارو سمونکي ګوره يو الله دي
يوه دريم ګړي لوي فاتح ته ضرورت پيدا دي
ددي ملت خلاصون لپاره يو سبب همدا دي
په موجوده حالت کي ګوره ټول ملت تباه دي

د «کاف لام» د سترګو اوښکي نه ودريږي وروڼو
د خپل وطن په هر يو بوټي دير زوريږي وروڼو

ویده ضمیر ته سکونډ

لعل محمد افسوس

نوري اوښکي په ګریوان زغملي نشم
نوري کونډې یتیمان زغملی نشم

نور د سرو وینو سیلاب می کور لاهو کړ
نور د غیرو جلادان زغملی نشم

خپیابله ښځي په پردی در وړی سلګۍ کړی
دا ګلونه ماشومان زغملی نشم

هر یو کلی هره میڼه وران کنډر شو
ګلالی وطن نور وران زغملی نشم

چی په زخم می د مالګی پوڼی کاندی
نور د زهرو طبیبان زغملی نشم

چی بلبل پکی په چغو سورو سور وی
نور اغزن اغزن بوستان زغملی نشم

چی د مرګ سلګۍ ئی اوری خوند پری اخلی
دا ناترسه سنګ دلان زغملی نشم

وینی زوی د مؤمن ملت می نوش شوی
پری اړم نور دا لیوان زغملی نشم

هر شپه اخر سبا شی همیش نهٔ وی
نوره توره شپه زندان زغملی نشم

دی ویدهٔ ضمیر ته سکونډ ورکړه چی ویښ شی
چی په ظلم خاموشان زغملی نشم

حوصله او صبر ختم شو «افسوسه»
نور د ظلم حاکمان زغملی نشم

په اسلام کې د حجاب حکم او ارزښت

لیکوال : زاهدی «احمدزی»

د ځینې اسلامي ملتونو او قومونو په کلي والي او مدني سیمو کې د نورو غیر اسلامي، جاهلي او ناروا دودونو په لړکې د بې پردګۍ، ګډ ژوند او له نامحرمو څخه د مسلمانانو ښځو د حجاب او پردې نه کولو ناروا دود هم موجود دی.

زیاتره وګړي د ښځو د ستر او پردې کولو اسلامي او قرآني احکامو ته هیڅ اعتنا نه کوي او که له دغو وګړو څخه وپوښتل شي چې تاسي ولې په خپلو میرمنو ، خویندو، میندو او لوڼو ستر نه کوئ، ځکه چې پر مسلمانانو باندې حجاب فرض دی.

دوی په ځواب کې راز راز عقلي مګر د شیطان او اماره نفس په لمسه داسې دلائل وړاندې کوي چې په ګناه کې یې دوچندوالی راولي. او دغه د بې سترۍ پلوه کې یوازې عوام او انهړ وګړي دلائل نه وړاندې کوي بلکې ډېر داسې عناصر هم دغه غیر شرعي

او د اجتماعي فساد په ترویج کې هاند کوي او دلیلونه وړاندې کوي چې روڼ اندي سواد لرونکي او مثقف هم دي اوله دي امله چې ددغو دواړو پاټکیو د بې حجابۍ په هکله اهداف او مقاصد بیل بیل دي، ددوی دلائل هم په خپل مینځ کې توپیر سره لري. چې دادې د هرې ډلې دلائل هم په ځانګړې توګه بیانولې شي.

دعـــــــوامو دلائل:

کله چې مسلمانانو عوامو ته نارینه وي او که ښځې، دا وویل شي چې پر مؤمنو بالغو او عاقلو ښځو باندې فرض دي چې له اجنبي بالغو او عاقلو ان تردې چې لیونیانو او فاحشو ښځو څخه هم پرده او ستر کول فرض دی. تاسي ولې ستر نه کوئ نو په ځواب کې دغه لاندې دلائل وړاندې کوي.

الف: پرښځو باندې ستر کول خو دعالمانو، پیرانو ، سیدانو او متقي وګړو کاردی. مونږ خو امیان خلك یو، مونږ ته څه پکار دي چې ستر وکړو او له هغو سره سیالي وکړو، مونږ او هغوی الله تعالی نه یو سره برابر کړي، هغوی خو د هسکو مرتبو څښتنان دي.

ب: دویم دلیل دا وړاندې کوي او وایي: ستر خو په اصل کې د زړه ستر وي، په ظاهره که ستر وکړای شي او که نه، خو چې په زړه کې پاکي وي بیا نو که ښځې ازادي او بربنډ مخونه هم وګرځي هیڅ باك او پروا نلري.

ج: دعوامو دغه ډله وګړي دریم دلیل دا وړاندې کوي او وایي: چې که مونږ خپلې میرمنې، لوڼه، خویندې او میندې ستر کړو او هغوی د شرعي حجاب له حکم سره سمې په کوړونو کې محجوبې کړو، نو له مونږ سره به څوك کار وکړي، دوی زمونږ څارویو ته واښه راوړي، پټیو ته سره وړي، له غر څخه لرګي راوړي، کوروونو ته بوس چلوي، په پټیو کې خشاوه کوي، لو او لور راسره کوي او داسې نورې ډېرې چارې دي چې له مونږ سره زمونږ ښځې مرسته کوي.

د: څلورم دلیل دا وړاندې کوي او وایي چه: مونږ خو د خلکو له پیغور څخه هم په خپلو ښځو ستر کولی نه شو، ځکه چې بیا وایي پلانی په

خپلو ښځو ډاریزې ځکه یې په کور کې بندیوانی کړې دی، کارونه پرې نه کوي، له خپلو خپلوانو سره یې ناستی ولاړی او خبرو اترو ته نه پریږدي.

د ځینو مثقفو وګړو دلائل:

د اسلامي ټولنې ځینې هغه باسواده او په لیك لوست پوهه وګړي بې حجابۍ ته د ودې او رواج ورکولو ځانګړي دلائل وړاندې کوي چې یا خو کمونست وي او د دهریت په ګمراه کوونکي سیلاب کې لاهو شوي وي، اخلاق، حیاء، ننګ او غیرت یې له لاسه ورکړی وي. او یا غربي طاغوتي ثقافت او تهذیب یې په وجدان، ضمیر او اسلامي اقدارو د بې لارتیا او سیکولریزم تیورۍ تر خپلې اغیزې لاندې خرموچ کړي وي. نو دغه دواړه ډلې داسې دلائل وړاندې کوي او وایي: ښځه هم د نارینه په څیر زړه لري، ازاده فضا خوند ورکوي، د ټولنې او کهول د پرمختګ په ګردو چارو کې د ګډون او برخې اخستلو بشپړ حق لري، ځکه چې ښځه د ټولنې د جسم یوه داسې اساسي او بنسټیزه عضوه ده چې که هغه نه وي نو بشري ټولنه نیمګړې ده. نو ددې لپاره چې د ښځې له استعدادونو څخه په ټولنه کې اغیزمنه ګټه واخستلې شي، د حجاب او ستر ارتجاعي قانون باید لغوه کړای شي او ښځو ته اجازه ورکړای شي چې د کور له تورو تیارو څخه رڼا ته راووځي او له نارینو سره اوږه په اوږه د ژوند په اجتماعي چارو کې ونډه واخلي.

په سیاسي ډګر کې، په پارلمان کې په دفاعي امورو کې، په پولیسي مرکزونو، د معارف په اداري او تعلیمي سکتورونو کې، په کارخانو او دفترونو کې فعاله برخه واخلي او کار وکړي او که ددغو چارو د زده کړې لپاره بهرنیو اجنبي هیوادونو ته له محرم څخه پرته هم د هغې تللو ته اړتیا پیداشي باید لاړه شي.

دغه دواړه ډلې یعنې کمونستي بیزوګان او د غربي ثقافت تالي څټي وګړي د ښځو نیکمرغي له کور څخه بهر په کوڅو، بازارونو، کارخانو او دفترونو کې په عریان ګرځیدلو، مونوژوپ اغوستلو، د ټکرې او پړونې یعنې اسلامي لباس لرې غورځولو، له هر چا سره په کړس کړس خندا کولو، د سترګو په اشارو او لوڅ ګرځیدلو کې احساسوي.

لنډه دا چې د ګمراهۍ په سیلاب کې لاهو شوي وګړي د ښځو د پردې او حجاب د نه کولو لپاره دغه پورتني بې محتوې، پوچ او وراسته دلائل وړاندې کوي چې د هغې په اوریدلو سره ځینې ښځې دوکه کیږي. د حیاء او عفت پر عنصر باندې یې د بو-الهوسۍ عنصر غالب شيء او بیا په هغه صورت کې چې د کمونیزم په ژرنده کې دل شوي وګړي او هم د لویدیځ ثقافت غلامان خپلې لوڼه، میرمنې، خویندې او میندې سرلوڅې او نیمې بربنډې بازارونو ، کارځایونو او دفاترو ته راوباسي او له اجنبي نارینو سره یې په ډانس کولو ووینې په راډیو ټلویزیون کې پر تجملي اشیاؤ ګانلې وګوري، د ګډا، نڅا، فحاشیو او بې حیائۍ په محافلو کې یې په غیر ارادي حرکاتو اخته ووینې نو هرومرو د هوس او امارې نفس په لمسه د هغوی د تقلید کولو هوډمنې کیږي، د نشوز او ټمرد پلو ته متمایلې شي او حجاب، عفت، حیاء په کور کې د ناستې او د کار کولو پروسه او دنده عذاب تلقي کوي او د هغو هیپي او ګمراه ښځو چې د اسلام مقدس شعائر یې له پښو لاندې کړي دي د ژوندود په لاره سوکه سوکه د رهي

کیدو زیار باسی.

له نامحرمو سره ګډ ژوند:

دغه راز په کلیوالی ژوند کی هم په غیر شعوری توګه د بی حجابۍ جاهلی دود په اوچته پیمانه روان دی او هغه داسی چی په زیاترو اسلامی قامونو او ملتونو کی پیغلی نجونه، لونه او خویندی له نامحرومو سره ګډ ژوند کوی د ترۀ له بالغ ځوی سره، په یوه ځونه کی، د ماما له ځوی سره، د ترور له زامنو سره دمخ پټونی پرته ناسته ولاړه، په یو دسترخوان او یوه کاسه ګډ خوراك څښناك کوی. په لاس روغبړ ورسره کوی، بی تکلفه مجلس، ټوقی ټکالی او خبری اتری ورسره کوی. له لیوریالیورونو یعنی د میرۀ له ورونو او د هغوی له زلمیانو زامنو څخه خو بیخی پرده نه کوی، په یوه کوټه کی ناسته څه چه ملاسته سره کوی، او دا خو بیخی عام معمول دی ځکه چی لیور خو څوك نامحرم نه ګنی ،ایکی یواځی د شپو او ورځو سفر ورسره کوی.

په حقیقت کی پخپله همدغه پورتنی وګړی د ښځو د بی حیائی او بی حجابۍ مسئولین دی. او هم دوی دی چی ښځی، خویندی، لونه او میندی یی د پت، عزت، حیاء او برم له هغه اوچت مقام څخه راغورځولی دی، کوم چی د اسلام مقدس دین ښځو ته ورکړی دی.

له اجانبوسره:

په اکثرو قومونو کی دا دود هم شته داسی نارینه چی بیخی په قام کی ورسره شریك نه وی، حتی د ژبی، ثقافت او دین له مخی هم ورسره یو نه وی خوچه یو یادوه ځلی په بازار، جومات یا بل ځای کی ورسره وویني او یا کومه تجارتی راکړه ورکړه ورسره وکړی ، نو ددوستۍ اړیکی ورسره ټینګی کړی.

«نوربیا»

حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کی د ناسپېنیو او ناروبګړ ځونګ برته له ویری او سفر نه په یو ځای وکړ. ابو الزبیر د حدیث راوی وائي چه ما د سعید نه تپوس وکړه چه داسی ئی ولی وکړل نو هغه و فرمائل چه د ابن عباس رضي الله عنه نه تپوس وکړه نو هغه و فرمایل چه دا ددی د باره چه په امت کښی تنګسټیا و نه غورزیږی. (رواه ابو داود، ترمزی، احمد، نسائی)

د نبوي ملغلرو اميل

په تير پسې

پنځم حديث: د حضرت عبدالله بن زبير رضی الله عنهما نه روايت دی رسول الله ﷺ به چی کله لمونځ ختم کړ په اوچت اواز سره به ئی داسی ويل:

لا اله الاالله وحده لاشريك له له الملك وله الحمد وهو علی کل شی قدير لاحول ولاقوة الا بالله لااله الاالله ولا نعبد الا اياه له النعمة وله الفضل وله الثناء الحسن لا اله الا الله مخلصين له الدين ولو کره الکافرون (مشکوة باب ذکر بعد الصلوة فصل اول کتاب الام امام شافعی صـ ۱۱۰ جـ ۱).

ترجمه: له الله نه سيوا بل معبود نشته، هغه يو دی، هيڅ شريك نلری، دده بادشاهی ده او حمد ثناء دده لپاره ده، الله تعالی په هر څيز قادر دی، هيچا سره د نقصان رسولو او فايدی رسولو قدرت نشته مگر د الله تعالی سره، د الله تعالی نه پرته بل معبود نشته، مونږ صرف د الله تعالی عبادت کوو، نعمتونه رسول او فضل کول د الله تعالی کار دی، غوره تعريف د الله تعالی لپاره دی، نشته د عبادت لايق مگر الله تعالی دی، مونږ د الله تعالی اطاعت کوو اگر که کافران ئی بده گڼی.

شپږم حديث: د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه نه روايت دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دی: څوك چی (دا لاندی) کلمات د لمانځه څخه وروسته تکرار کړی، که دده گناهونه د سمندر د ځگ هومره هم وی الله تعالی به ورته بخښنه وکړی. (سبحان الله) الله تعالی پاك دی، (۳۳ ځله)، (الحمدلله) ثناء صفت د الله تعالی لپاره دی (۳۳ ځله)، (الله اکبر) الله ډير لوی دی (۳٤ ځله)، (لا اله الا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو علی کل شیءٍ قدير)

ترجمه: له الله تعالی نه سيوا کوم بل معبود نشته، هغه يو دی، شريك نلری، دهغه سلطنت دی او هغه د حمد او ثنا لايق دی او په هر څه قادر دی. (يوځل) (مشکوة باب الذکر بعد الصلوة فصل اول).

اووم حديث: حضرت علی رضی الله عنه نه روايت دی چی ما له رسول الله ﷺ څخه اوريدلی دی:

که چا له هر لمانځه نه وروسته اية الکرسی وويله نو له مرگ نه پرته به هيڅ شی هم هغه له جنت څخه منعه نکړای شی يعنی چی کله مړ شی نو سمدستی به جنت ته داخل شی دغه فضيلت دحضرت امامه په روايت د اية الکرسی او د اخلاص د سورة په ويلو کی ذکر شوی دی.

(الترغيب والترهيب صـ ۷۷٤ جـ ۲ طبع مصر).

اتم حدیث: له حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنهما نه روایت دی چی رسول الله ﷺ راته وفرمایل چی له هر لمانځه نه وروسته (قل أعوذ برب الفلق) او (قل اعوذ برب الناس) لوله (مشکوة باب الذکر دریم فصل)

نهم حدیث: له حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دی کله چی به رسول الله ﷺ له لمانځه نه فارغ شو نو دری ځله به ئی دا ویل: سبحان ربك رب العزة عما یصفون ○ وسلام علی المرسلین ○ والحمد لله رب العالمین○.

ترجمه: ستا رب د عزت خاوند او پاك دی له هغو عیبو څخه کوم چی کافران ئی ذکر کوی او سلامتی دی وی په ټولو پیغمبرانو باندی، ټول تعریفونه الله تعالیٰ لره دی. په یو حدیث کی راغلی دی چی ددغو کلمو په وروو کولو سره سړی ته د عبادت پوره ثواب ورکول کیږی. (مشکوة باب الذکر بعدالصلوة دویم فصل).

د سهار او ماښام دعاګانی:

اول حدیث: حضرت عبدالرحمن بن غنم رضی الله عنه وائی چی رسول الله ﷺ وفرمایل چی که چا د سهار له لمانځه نه وروسته د تشهد په حالت کی د قبلی لور ته دغه کلمه لس ځلی وویله او همدارنګه ماښام ئی هم همداسی وکړه نو د هغه په عمل نامه کی به لس نیکی ولیکل شی او لس ګناهونه به ئی وبخښلی شی، لس درجی به ورکړی شی او له سهار نه تر ماښامه پوری به له ګناهونو وساتل شی:

لا اله الا الله وحده لا شریك له له الملك وله الحمد بیده الخیر یحیی و یمیت وهو علی کل شی قدیرط (مشکوة باب ما یقول عند الصباح والمساء)

ترجمه: له الله تعالی نه پرته بل څوك د عبادت وړ نه دی، نیکی د هغه په لاس کی دی، مرګ او ژوند د هغه په لاس کی دی او هر شی باندی قادر دی.

دویم حدیث: د حضرت عثمان رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله ﷺ وفرمایل: که څوك سهار او ماښام دغه آیت ولولی نو یو شی به هم تاوان ور ونه رسوی.

بسم الله الذی لا یضر مع اسمه شئ فی الارض ولا فی السمآء وهو السمیع العلیم ط ((مشکوة باب ما یقول عند الصباح والمساء والمنام)

ترجمه: شروع دالله تعالی په نوم د هغه د نوم له برکت نه یو شی هم په مځکه او اسمان کی نقصان نه شی رسولای هغه پوه او اوریدونکی دی.

دریم حدیث: د حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله ﷺ به سهار او ماښام دغه کلمی لوستلی:

اللهم عافنی فی بدنی اللهم عافنی فی سمعی اللهم عافنی فی بصری لا اله الا انت (مشکوة باب ما یقول عند الصباح والمساء والمنام دویم فصل)

ترجمه: ای الله! زما بدن تکړه کړه! الله تعالی زما غوږونه، سترګی وساتی! له تا پرته بل څوك د عبادت وړ نه دی.

څلورم حدیث: له حضرت ابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله ﷺ فرمایی چی که چا دا دعا ولوستله نو هیڅ شی به ورته تاوان ونه رسوی. اعوذ بکلمات الله التآمات من شر ما خلق (مجمع الزواید ص ۱۲۰ ج ۱۰ بحواله طبرانی اوسط)

ترجمه: زه د الله تعالی د کلماتو په تأثیر له هغه پناه غواړم د خلکو د شرارتونو څخه.

پنځم حدیث:د حضرت ا بو

دردا رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله ﷺ فرمایی: چی که چا سهار او ماښام دا وظیفه وکړه نو الله تعالی به د هغه ددین او دنیا فکر او غم لری کړی. حسبی الله لا اله الا هو علیه توکلت وهو رب العرش العظیم (سنن ابی داود باب ما یقول اذا اصبح و کتاب الاذکار ص ٤٠)

ترجمه: زما دپاره الله تعالی کافی دی، د الله تعالی نه سیوا بل هیڅ معبود نشته، زما په الله تعالی باندی بروسه ده او هغه دعرش مالك دی.

شپږم حدیث: حضرت شداد بن اوس رضی الله عنه وائی چی رسول الله ﷺ وفرمایل: چی که چا دغه دعا سهار وویله او له ماښام نه مخکی مړشو نو جنت به ئی ځای وی او که ماښام ئی وویله او له سهار نه مخکی مړ شو نو جنت به ئی ځای وی.

اللهم انت ربی لا اله الا انت خلقتنی و انا عبدك و انا علی عهدك و وعدك ما استطعت اعوذبك من شر ما صنعت ابوء لك بنعمتك علی و ابوء بذنبی فاغفرلی فانه لا یغفر الذنوب الا انت (مشکوة باب الاستغفاراول فصل).

ترجمه: ای الله! ته زما رب ئی، له تا پرته بل څوك د عبادت وړ نه دی، تا زه پیدا کړی یم او زه ستا بنده یم او زه له تا سره په کړی وعده باندی ولاړ یم، له خپل طاقت سره سم ستا پناه غواړم کوم بد کارونه چی ما کړی دی په دی باندی قانع یم او هم ستا په احسان قانع یم نو بیا ما وبخښه! ځکه چی له تا پرته بل څوك ما نشی بخښلی.

اووم حدیث: حضرت عبدالله ابن عمررضی الله عنه روایت کوی چی رسول الله ﷺ به سهار ماښام دا کلمات ویل او قضایی به ئی پکی نه کوله. اللهم انی اسئلك العافیة فی الدنیا والاخرة اللهم انی اسئلك العفو والعافیة فی دینی ودنیای واهلی ومالی اللهم الستر عوراتی وامن روعاتی اللهم احفظنی من بین یدی ومن خلفی وعن یمنی وعن شمالی ومن فوقی او اعوذ بعظمتك ان اغتال من تحتی (مشکوة باب مایقول عندالصباح والمساء والمنام دوهم فصل)

ترجمه: ای الله! زه ستانه د دنیا او اخرت سلامتی غواړم. ای الله! زه د خپلو گناهونو د بخښنی سوال کوم او په دین او دنیا، اهل او مال کی می سلامت لره. الهی! زما عیبونه پټ کړه او بی فکره می کړه د ویرونکو څیزونو څخه. ای الله! ته زما د وړاندی، وروسته، ښی خوا، چپی خوا، پورته خوا او لاندی خوا یعنی د ځمکی د عذاب نه حفاظت راکړی.

اتم حدیث: د حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله ﷺ فرمایی: چی که چا د سهار په وخت کی دا آیتونه ولوستل نو په هغه ورځ به هغه ته د هغو کارونو ثواب ورکړی شی، کوم چی له هغه چا نه شوی وی.

فسبحان الله حین تمسون و حین تصبحون وله الحمد فی السموات والارض وعشیاً وحین تظهرون یخرج الحی من المیت ویخرج المیت من الحی ویحی الارض بعد موتها وکذلك تخرجون (مشکوة باب مایقول عندالصباح والمساء والمنام دویم فصل)

ترجمه: نو الله تعالی پاك او د صفت وړ دی، کله چی تاسی سهار او ماښام وائی هغه د ثناء وړ دی، اسمانونو او ځمکو کی مازدیگر او ماسپښین هم ټول تعریفونه هغه لره دی له مړی نه ژوندی او له ژوندی نه مړی پیدا کوی او چی ځمکی ته اوبه ورکوی نو همدارنگه په اخرت کی به تاسی له قبرونو نه راپورته کړی.

«نوربیا»

په تير پسې

تمدن او د تمدن ډولونه

اسلامي تمدن

اسلامي تمدن د جاهلي تمدنونو له گردو ډولونو څخه ممتاز او ځانگړی تمدن دی. ځکه چې د اسلامي تمدن مبادی او اصول د انسان له پلوه نه بلکه د انسان او د گردو کائناتو د خالق، مالك او رب له پلوه وضع کړای شوی دی او انسان یې ددغو مبادیو په پلې کولو مامور کړی دی. او پر دغو مبادیو د پوهولو له پاره ئې د انسان له نسل څخه د انسان د هدایت لپاره رسولان مبعوث کړی دی. او هغوی داسې ذوات وو چې پر ممتازو نیکو اخلاقو گاڼلې ۲- سلیم الفطرت، صحیح الدماغ په فطری توگه مهذب او کامل العقل، نجیب النسل، په معاملاتو کې صائب الرأی او د متوازن فهم او فراست خاوندان وو. ۳- په هغوی کې مادی او معنوی دواړه ډوله استعدادونه ودیعت کړای شوی وو، ٤- په گردو مسائلو کې معتدل او د متوسطې درجې فیصله کوونکي وو، ٥- هغوی د غیبي مسائلو په اړوند داسې معلومات ظاهرول چې مأخذ او سرچینه یې بداهتاً هغه علوم او فنون نه وو چې له معاصرو انسانانو سره وو. دغه الهی استاذی زیاتره داسې وو چې له اصطلاحی علومو څخه ناواقف وو، هغوی د علومو او فنونو په اصطلاحی ژبو خبرې نه کولې. هغوی له هر ډول تکلف او تصنع څخه پاك وو. د حقیقت علمی سمندر لکه څرنگه چې د هغوی په سینو کې څپې وهلې همدغه ډول به د هغوی پر ژبو جاری کیده، ٦- هغوی له پیل څخه له اخلاقی کمزورتیا څخه محفوظ وو. ۷- د هغوی علم ددنیوی علومو په څیر منهجی او تدریجی نه وو. اونه ئې په علمی معلوماتو کې بدلون راته، بلکې هغوی ته حق په یو ځل منکشف کیده، د علم او عمر په زیاتیدو سره د هغوی په علمی حقائقو کې بدلون نه راته. ۸- د هغوی علوم په بشپړه توگه وجدانی او حسی وو په داسې توگه چې له بحث او مجادلې څخه هیڅ ډول یو پوټې شك هم ورپکې نه راته. ۹- هغوی د هرې خبرې ځواب له خپل پلوه نه ورکاوه بلکې د الله تعالی له پلوه د وحې په توسه به وو.

د اسلامي تمدن ددغو مخکښانو او معمارانو له ټولو څخه وروستی رهبر د بشریت تاجدار محمد(ص) دی چې ددغه تمدن مکمّل او پر ده باندې نازل

شوی کتاب (قرآن کریم) د اسلامی تمدن د قوانینو جامع دی.

په اسلامی تمدن کی عبادات، اخلاق، معاملات، تدبیر منزل، سیاست مدینه، د محکی عمران، فردی او اجتماعی منافع د الهی قانون په چوکاټ کی تر لاسه کول، له دنیوی نعمتونو څخه په مناسبه توګه ګټه تر لاسه کول، د مادیاتو او معنویاتو تر منځ توازن او تعادل په نظر کی نیول.اخلاقی او فطری معیارونه په عملی ډګر کی پلی کول دا ټول خونږدی ساتلی شوی دی. یعنی نه خو سوچه مادی او نه سوچه روحانی دی.

اصول او امتیازات: هغه مبادی، اصول او امتیازات چی اسلامی تمدن له جاهلی تمدنونو څخه ممتاز او بیلوی په لنډیز سره په لاندی ډول دی:

۱- د اسلامی تمدن زیر بناء عقیده ده او نور ټول اشیاء وسایل دی.

۲- د اسلامی تمدن ټول هدایات او اصول "منزل من الله" دی.

۳- د اسلامی تمدن ټول اصول، هدایات او مبادی ابدی او تلپاتی دی چی له همدی امله دغه تمدن هم ابدی دی.

٤- دغه تمدن د ګرد بشریت، هری زمانی، هر محیط او هر نسل لپاره د تطبیق وړ او جوګه دی، د کوم خاص ملت لپاره نه دی، زمانی، محیطی او توکمیز محدودیت نه لری.

٥- په دغه تمدن کی مادی او معنا، دنیا اوآخرت، جسم او روح ټولو ته په خپل خپل ځای کی ارزښت ورکړای شوی دی.

دغه راز په دغه تمدن کی د شریعت او الهی هدایاتو په رڼا کی محسوساتو او عقلیاتو ته ارزښت ورکړای شوی دی او داسی باور پری لری لکه څرنګه یی چی په مغیباتو لری. خو پدی شرط چی د اخلاقو او فطری غوښتنو خلاف هم نه وی.

٦- ددغه تمدن دنیوی او اخروی هدایات د الله تعالی له دی حکم او فرمان سره سم چی «وابتغ بین ذلك سبیلاO» د افراط او تفریط څخه پاك، معتدل او په متوسطه درجه کی دی.

٧- ددغه تمدن الهی قانون (قرآن کریم) خپلو پیروانو ته تعلیم ورکوی چی نه خو دغه کائنات عبث پیداکړای شوی دی او نه انسانان ټولواك او خپل سری پریښودلی شوی دی لکه چی فرمائی: «وما خلقنا السمآء والارض و ما بینهما باطلا» (ص - ۲۷ آیت).

او مونږ آسمان او ځمکه او ددی دواړو په مینځ کی موجودات چټی او بیکاره پیداکړی نه دی. او فرمایلی ئی دی:

ایحسب الانسان ان یترك سدیO (القیمة - ۳٦ آیت).

آیا انسان ګومان کوی چی آزاد بیکار او غیر مسئول به پریښودلی شی.

او فرمایلی ئی دی: افحسبتم انما خلقناکم عبثا و انکم الینا لا ترجعونO (مؤمنون ۱۱۵آیت).

آیا تاسو ګومان کړی دی چی تاسی مونږ چټی او بیکاره پیداکړی یاست او بل داچی تاسو به بیرته مونږ ته راستانه نه کړای شئ او بیرته به مونږ ته رانشیء. بلکی هرومرو مونږ ته راتللونکی یاست.

نو لکه څرنګه چی د حسی او عقلی تمدنونو پیروان ګروهمن دی چی همدغه دنیا ده او دوی دی چی یو ځل مړه شی بیا نه راژوندی کیږی. اسلامی تمدن یی ردوی او دغه نظریه طاغوتی نظریه ګنی.

۸- د اسلامی تمدن روح او قانون له رهبانیت څخه خلاف دی او دغه ډول

عقیده او فلسفه تردیدوی او انسان ته دا اجازه نه ورکوی چی د الله تعالی نعمتونه پرځان او یا نورو باندی حرام وګرځوی لکه چی الله تعالی فرمایلی دی: «قل من حرم زینة الله التی اخرج لعباده والطیبت من الرزق قل هی للذین امنوا فی الحیوة الدنیا خالصة یوم القیمة» (الاعراف - ۳۲آیة)

ته ورته ووایه! چا د الله تعالی هغه زینت حرام کړی دی چی الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره پیداکړی دی او د روزی سپیڅلی او سوتره صاف ډولونه. ورته ووایه! دغه ټول نعمتونه د هغو وګړو لپاره چی ایمان یی راوړی دی هم په دنیا کی او (په خصوصی توګه) هم د قیامت په ورځ د مؤمنانو لپاره دی. یعنی د الله تعالی دغه نعمتونه په دنیا کی د هر چا لپاره دی مګر په آخرت کی خالص د مؤمنانو لپاره مختص دی.

او فرمایلی ئی دی: «ولا تنس نصیبك من الدنیا» او د مادی دنیا خپله برخه مه هیروه.

او هغه داسی چی خپل ټول ژوند آخرت او اخروی دندو او ذمه واریو ته وقف کړی، شپه او ورځ د روح او نفس په تزکیه کی صرف کړی او تارك الدنیا وګرځیږی. ځکه چی دغه ډول ژوند او طریقه غوره کول د الهامی تمدن د اصولو منافی ده. ځکه چی جسم هم په دغه تمدن کی هماغسی حقوق لری لکه څرنګه یی چی روح لری، نو هرهغه اقدام چی جسم په خطر کی غورځوی او یایی کمزوری کوی اسلامی تمدن ممانعت ورڅخه کوی نبی کریم(ص) فرمایلی دی:

«المؤمن القوی خیر من المؤمن الضعیف»

ځواکمن مؤمن له کمزوری مؤمن څخه غوره دی او الله تعالی فرمائلی دی: «ولاتلقوا بایدیکم الی التهلکة»

په خپله خپل ځانونه په هلاکت کی مه غورځوی». د اسلامی تمدن معمار حضرت رسول اکرم(ص) فرمایلی دی: «لا رهبانیة فی الاسلام»

په اسلام کی اشراقیت نشته.

۹- په اسلامی تمدن کی ښځه هماغسی اوچت او عزتمند مقام لری لکه څرنګه یی چی نارینه لری. ددغه تمدن په قانون کی ښځه د عمل او مسئولیت په لحاظ له نارینه سره یو شان او یو مقام لری. د ښځی عمل هماغسی د الله تعالی په وړاندی ارزښت لری لکه څرنګه یی چی د نارینه عمل لری.

الله تعالی په دی باره کی فرمایلی دی:

«ان الله لا یضیع عمل عامل من ذکر و انثی».

په تحقیق سره الله تعالی د هیڅ یو عمل کوونکی نارینه وی او که ښځینه نه ابته کوی . ځکه چی د اسلامی تمدن په قانون کی ښځه هم هماغسی انسان دی لکه څرنګه چی نارینه دی. اسلام په انسانی حقوقو کی نارینه او ښځه دواړه برابر ګڼی.

په دغه تمدن کی د ځمکی د عمران لپاره انسان د الله تعالی له پلوه خلیفه ګرځولی شوی دی. نو دی کولی شی بلکی پری لازم دی چی ځمکه تعمیر کړی او عمارتونه پری جوړ کړی خو په دی شرط چی مشرکانه او بت پرستانه واهی نه وی او د اعتدال له چوکاټ څخه بهر نه وی، دغه تمدن په خپل څوارلس سوه کلن تاریخ کی داسی نمونی لری چی په بل هیڅ تمدن کی یی ساری او سیال نشته چی نمونی یی بغداد، دمشق، قرطبه، غرناطه، اصفهان، سمرقند، لاهور، لکهنو، ډهلی، قاهره او داسی نور دی.

نرۍ باران او د بلۍ غاړه

لعل محمد «افسوس»

د ژمی تور څادر په تولیدو ؤ، د ځمکې وخکې مسکیدو ته لیواله ښکاریدل، نری نری باران اوریدهٔ او د لوی اختر ورځ وه. ټولو مالدارو خلکو د ابراهیمی (علیه السلام) قربانۍ یاد تازه کاؤه.

کمال کاکا هم ګډ څملولی او حلالوی یی، ګډ یی حلال کړ او زامنو ته یی وویل: «بچو! تاسی ترینه ورو ورو پوست وباسئ چه زه بهر لختی ته دا وینه واړوم » کمال کاکا له کوره بهر راووت او وینه یی لختی ته واړوله، ټوله دنیا د سکوت په حال او خاموشه ښکاریده.

د کمال کاکا د بلۍ غاړې ته پام شو، څه ګوری چی یو وړوکی ماشوم چه عمر به یی د څلورو پنځه ؤ کالو تر منځ وی، د بلۍ غاړې ته راټول شوی او خپلو تنکو او سوړښخنو منګلو ته یی د تخرګو په خالګاؤ کی پناه ورکړی او بند په بند له سړې او یخې هوا داسی راټول شوی لکه څنګه چی د مور په رحم کی په طبیعی شکل پروت وی. له خمارو او ژړغونو سترګو نه یی غوټۍ غوټۍ اوښکی د تنکو اننګو په څوکو څڅیدلې. کمال کاکا غوښتل چه خواته ورشی او په غیږ کی یی اوچت او تود ئی کړی، د کمال کاکا په ورتګ چه خواته ورنژدی کیده؛ ویرجن ماشوم د کمال کاکا په وینو سرو لاسونو څخه نور هم ووېریده او د یخنۍ له رپیدلو سره سره یی د ویرې او ترهې رپیدل نور هم سیوا شو او هغه غم لړلی حالات ورته سترګو سترګو شو او هغه وخت وریاد شو چی کله په کلي سخته بمباری وه، د توپونو او توغندیو د ډزو هیڅ شمار او طرف نه معلومیدهٔ، تورو تورو لوګو او دوندونو د کلی د کوړونو له لوټې لوټې کیدو وروسته ټوله فضاء نیولې وه.

ماشوم پدی تورو لوگو او دوندونو کی خپل خوازه مور او پلار نهٔ لیدل، هره خوا یی د "ادې" او "بابا" چغی وهلی، خو کله چه د لوگو او دوندونو توری لړې نری نری او خپری شوی او ړنا شوه، بد نصیب ماشوم خپل مور او پلار په لری لری فاصله په سرو وینو لت پت ولیدل، بد نصیب ماشوم به کله د مور خواته منده کړه او په ژړا ژړا به یی ورته د «ادې» ناری وهلی، په نرو گوتو به یی ورته سترگی وغړولی او په وړه ژبه به ئی ورته وویل: «مورې! ته ماته ولی نه گوری او ته خبری ولی نه کوی؟».

بیا به د مور له خوا نه مرور د پلار خواته لاړ او هغه ته به یی څو شیبی وکتل، د پلار مخ یی دیر په سرو وینو کی سور ؤ، د پلار د سرو وینو نه به وویرید او بیا به د مور خواته راغی.

دذوهم ځل لپاره چی بیا بمباری او دز او دوز شروع شو، ټولو خلکو خپل ماشومان د غرهٔ خواته تښتول او د هجرت کډې باریدلې، دا ماشوم هم ذ هجرت قافلی تر دی بلی رارسولی ؤ. کمال کاکا د ماشوم دې حالت ته نور زړهٔ ټینگ نه کړ او سم له واره یی په خپلو متو ماشوم را اوچت کړ او په غاړه یی واړاوه او کورته یی ننه ایست.

کمال کاکا خپلی ښځی ته اواز کړ او ورته یی وویل: «هله دا ماشوم په غیږ کی ونیسه! زما لاسونه په وینو سرهٔ دی او د اور غاړی ته یی تود کړه».

د کمال کاکا ښځی ماشوم د انغری غاړی ته تود کړ، ماشوم سترگی و غړولی او د کور ناشنا دیوالونو ته یی یو خوا او بله خوا وکتل، کمال کاکا که ورنه هر څومره تپوسونه وکړل، خو د ماشوم په سرو او نرو نرو شونډو بس یو د خاموشۍ مهر لگیدلی ؤ. څو شیبی یی د کمال کاکا ښځی او کمال کاکا ته مړاوی وکتل او بس سترگی یی پټی کړی، د کمال کاکا دښځی له غیږی نه ذ خپلی مور د تودې او مینه ناکې غیږی په ارمان د څو وړو وړو سلگو سره رخصت شو.

د لیکونو بهیر

ادرس: "دعوت" مجله پوست بکس نمبر : G.P.O. 614 پشاور

مولوی عبدالرشید ننګرهاری ورور لیکی:

محترم ددعوت مجلی کارکوونکو!

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ط

محترمو ورونو! څرنګه چی تاسی ته ښه معلومه ده چی د افغانستان په مظلوم ملت ظلمونه له حده زیات شوی دی او د افغانستان دښمنانو ددي خاوري پر مؤمنو بچیانو ډول ډول لوبی وکړی، خو دا معلومه نه ده چی ترڅو به داسی کیږی؟ نو څرنګه چی جماعت الدعوت یو دعوتي تنظیم دی، پکار دي چي د افغانستان په اوسني وضع کي د یو ثالث تنظیم کردار اداء کري. چي ښکیلي خواوي خیرته راوبلي او له شر څخه یي منعه کري. دي کي ددي جماعت لپاره هم خیر دي او دمظلوم ملت لپاره هم.

زه خپل یو څو نظریات درلیږم هیله ده چي نشر ته ئي وسپاريْ.

١- جهادي رهبران باید خپل کفالت او صلاحیت مثالي نړۍ ته وړاندي کري.

٢- د حکومت اوسني مشکلات باید د قرآن او سنت له لاري حل وفصل شي.

٣- د کمونستانو او دهریانو سره زمونږ جهاد د جماعة الدعوت الی القرآن والسنة له اهدافو څخه شمیرل کیږي.

٤- نن د جهادي قوتونو له بي اتفاقیو څخه یوازي کمونستان او ملیشه قواوي ګټه اخلي او بس.

٥- په افغانستان کي جماعة الدعوت الي القرآن والسنت باید د خپلو حقه حقوقو څخه عاجز ونه ګڼل شي.

والسلام

* * * * * * *

د کونړونو ولایت د اسعدآباد د محمدیه لیسي د اووم "ج" ټولګي زده کوونکي هریو حضرت ګل "صدیقي" او شفیق الله "صادقیار" وورنه لیکي:

ډیرو محترمو ددعوت مجلي کارکوونکو ورونو!

اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته ط

عزتمندو! مونږ هر وخت ددعوت مجلې د پرمختګ دعاګانې کوو! الله تعالى دې وکړي چې تاسې ددې مجلې د خدمت پخاطر د همیشه لپاره کامیاب او بریالي اوسئ!

ددعوت مجله چې هر وخت مطالعه کوو، له مضامینو څخه یې ډېر خوازه، مقاصد حاصلوو.

مونږ یوه غوښتنه لرو، که ممکنه وي باید چې غور پرې وشي، څرنګه چې د کنړونو ولایت یو تاریخي ولایت دی او پدې کې چې هر څه تیرېږي، کومه بله منبع نشته چې د مطبوعاتو مخ ته یې ورسوي، د مثال په طور هغه غونډې او جلسې چې دلته په کونړ کې ترسره کیږي لکه د ۱۳۷۳ هـ ش کال د وري د میاشتې په (۱۷) نیټه د تعلیم او تربیې د ریاست د افتتاح په مناسبت وشوه، د همدې میاشتې په (۲٤) نیټه د اسلامي بیرغ د اوچتیدلو مراسم او په (۳۱) نیټه د کرهالي د شهیدانو ورځ په شهداء چوک کې ولمانځل شوه او همدارنګه د ثور د میاشتې په (٤مه) نیټه د افغانستان د مکملې ازادۍ په مناسبت یو جشن جوړ شو چې په ټول ولایت کې په ډېر جم و جوش سره ولمانځل شو.

والسلام

برادر گرامي ما محمد عمر "زلمي"فارغ التحصيل ليسه حبيبيه بعد از سلام و احوال پرسي با كاركنان مجلهء دعوت پيشنهاداتي را تحرير داشته اند، كه ما پيشنهادات شان رابدون كم وكاست نشر مينمائيم، و موفقيت مزيد شان را از خداوند متعال مي خواهيم:

۱- كاركنان مجلهء دعوت بايد سعي ورزند كه بيشتر مضامين رابه زبان دري تهيه نمايند چون اكثر پشتو زبان هم از دري استفاده كرده ميتوانند.

۲- اگر لازم ميدانيد عين مضامين را در شماره هاي مختلف به هر دو زبان نشر نمائيد.

۳- اكثر برادران فارسي زبان ما زير تأثير فرهنگ تشيع ايران رفته از اصل دين كه قرآن وسنت است ناخبر اند شما ميدانيد كه ايراني ها مبارزهء فرهنگي را عليه عقيدهء اهل سنت والجماعة آغاز نموده ودرين راه از هيچ نوع جعل كاري و تحريف نگاري و كتمان حق دريغ نمي ورزند، بناءً شما كه خود را علم برادر عقيدهء اهل سنت والجماعة بروفق منهج سلف الصالحين ميدانيد، مسئوليت داريد كه بخاطر نجات عقيدهء مسلمانان از چنگال عقيده ربايان يهود و ماسونيست هاي مسلمان نما قدم هاي متين وسريع بر داريد.

برادران من! شما باور كنيد كه من اشخاص تحصيلكرده اي را ديده ام كه در بحث و جدل خود دلايلي را بنام حديث دليل مي آورند كه اصلاً سند ندارند مثلاً كتابي بنام «هزار حديث» وجود دارد، نويسنده احاديثي را از منابع تشيع جمع آوري نموده كه از نگاه روايت و درايت فاقد اعتبار و بدون سند نقل نموده اند، به همين منوال كتب زيادي وجود دارد كه با معيار هاي شرعي مطابقت ندارند اما چون تعليم يافتهء افغانستان اكثراً در زبان عربي مرور ندارند مجبور هستند كه از كتب فارسيءِ نويسنده هاي ايراني استفاده كنند نويسنده هاي ايراني عادت دارند كه در عام مسائل به نفع مذهب خويش تحريف و كتمان مي كنند بناءً خواهش من از شما و صاحبان قدرت علمي و فرهنگي و اقتصادي اينست تا توجهءِ جدي و عميق خود را در راه نشر واشاعت توحيد بزبان فارسي مبذول نموده و خداوند قدير و عالم بذات

ارشاد نبوی

بسم الله الرحمن الرحیم

وعن ابی هريرة (رضي الله عنه) قال: سئل النبی صلي الله عليه وسلم اي العمل افضل؟ قال: «ايمان بالله و رسوله»، قيل: ثم ماذا؟ قال: «الجهاد في سبيل الله»، قيل: ثم ماذا؟ قال: «حج مبرور» (متفق عليه)

ترجمه: از ابوهريرة (رضي الله عنه) روايت است كه: از پيامبر صلي الله عليه وسلم پرسيده شد كدام عمل بهتر است؟ فرمود: ايمان به الله ورسولش. گفته شد باز كدام؟ فرمود: جهاد في سبيل الله، گفته شد باز كدام؟ فرمود: حج مقبول.

د شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله له ویناؤ څخه

«د افغانستان د جهاد په باب مختلفی دسیسی روانی دي، غواړی چی دی جهاد ته توقف ورکړی، د مسلمانانو جهاد اوقربانی ضایع او تباه شی، د کومی غايي او هدف لپاره چی دا جهاد شروع شویدی هغه د مسلمانانو په لاس ورنه شی، د افغانستان د مجاهد او مسلمان ملت سره ددی خبری غږ هم ضروري دی هغه څه چی الله تعالی مسلمان ته حکم کړی دی او جهاد ئی د څه لپاره فرض کړی دی، دا به ضرور حاصلیږی اویا به ددی غايي او هدف د ګټلو لپاره په دی لاره کی شهادت ګټو.